داحتساب محکمه : د دې محکمې وظیفه داوه چې د
هر ډول فحاشی او په تجارتي معاملو کښې د فریبکارانو
مخه ونیسي .

دعباسيانو په دوره کښې تألیف او تصنیف

کله چې د اسلامي حکومت بنسټ ټینګ شو په اوله مرحله
کښې تعلیم د لیک په واسطه نه وو، د بني امیه وو پروستیو
وختونو کښې د کتابونو د لیکلو کار شروع شو . خو د تألیف او
تصنیف کار د عباسیانو په دوره کښې په پوره زور او
شور سره پر مخ ولاړ . اسلامي علماوو له ټولو څخه لومړی ،
د دیني علوموخوا ته توجه وکړه . د قرآن مجید تفسیرونه
یې ولیکل ، د حضرت محمد (ص) احادیث یې جمع کړل ،

بیایي .فقهی کتابونه ولیکل . د تفسیر حدیث او فقهی څخه

علاوه تاریخ ، ادب او شاعری باندي هم کتابونه و لیکل

شول او په آخر کښي فلسفه ، هئیت ، ریاضي ، طب او د اسې

نورو په باره کښي د کتابو نو د لیکلو کار پیل شو.

د اسلامي فقهي یا اسلامي قانون تدوین او مستند و

احادیثو ترتیب او تألیف د عباسي دورې لویه علمي

کارنامه ده . د عباسیانو په دوره کښي هغو علماؤ چي

د اسلامي فقهی د تدوین او ترتیب په برخه کښي —

نه ستړي کیدونکی هلي ځلي کړي په خلص ډول

په لاندي ډول معرفي کیږي :

الف ـ امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه)

(۸۰ - ۱۵۰ هجری)

دنعمان بن ثابت چې دامام ابوحنیفه په نامه مشهور شوی اصلي او پلرنی وطن افغانستان او دکوفی اوسېدونکی وو او تجارت یې کاوه . خپل زیات تحصیل یې له حماد بن ابی سلیمان څخه حاصل کړ . هغه چې کوم فقهی قوانین مرتب کړل هغه د حنفی فقهې په نامه سره شهرت لري .

امام ابوحنیفه (رح) د ډېر و سبو اخلاقو خاوندوو، د دولت . داراۍ خاوند هم وو. هغه له خپل دولت څخه له شاگردانو سره کومک کاوه لکه چې دده یو شاگرد محمد د ډېر . . . وو او له امام اعظم څخه به یې علم حاصلاوه . یو ځل دهغه پلار راغی او محمد یې کورته بوت او ورته یې وویل :

امام ابوحنیفه خومالدار دی هغه هر وخت درس ویلای

شي لیکن ته غریب یې که چیري ته تول وخت په درس ویلو مصرف

کړې نو زمونږ د ژوند گوزاره به په څه شي باندې وي.

د پلار د دې هدایت څخه وروسته څو ورځې محمد درس

ته لاړ نشو. کله چې درس ته ورغی امام صاحب د

غیر حاضرۍ د علت پوښتنه ورڅخه وکړه. هغه ور ته

وویل: زه غریب یم. امام صاحب څه پیسې ورته ورکړې

او ورته یې وویل: کله چې دا پیسې خلاصې شوې بیا

مانه ووایه. په دې ډول د استاد په کومک سره یې دومره

علم حاصل کړ چې د امام ابوحنیفه (رح) په شاگردانو کښې

د ټولو څخه مخکښې شو او خلکو هغه د امام محمد په نامه

سره یاد کړ.

د حنفي فقهې د خپرولو په برخه کښې د ټولو نه زیات

دوو شاگرد انو برخه واخیسته، چې یو یې قاضي ابویوسف صاحب او بل یې امام محمد صاحب وو. قاضی ابو یوسف صاحب د ښو لوڅخه لومړی د حنفی فقهې کتابونه ولیکل. څرنګه چې دی د عباسي حکمران هارون الرشید د حکومت په ټوله زمانه کښې قاضي القضات وو ځکه نو حنفي فقهې زیات شهرت پیدا کړ. لیکن د حنفي فقهې بنیاد د امام محمد په تألیفاتو ولاړ دی.

عباسي حکمران منصور غوښتل چې امام اعظم صاحب د قاضی القضات وظیفه په غاړه واخلي، لیکن ده د دې وظیفې له قبلولو څخه انکار وکړ. د دې وجهې نه منصور دی په محبس کښې بندي کړ، چې د منصور د ظلمونو له کبله په محبس کښې په شهادت ورسید. د مرګ په وخت کښې یې وصیت وکړ چې ما د بغداد په هغې برخه کښې ښخ نکړی کوم چې منصور د ښار جوړولو

لپاره دخلکو څخه غصب کړي دي.

بو ځلي منصور له امام صاحب څخه پوښتنه وکړه چې ته زما تحفې ولې نه قبلوې ؟ هغه په ځواب کښې ورته وویل : که چیرې ته دخپل مال څخه ماته څه دتحفې په ډول راکړې ، نو حتماً به یې قبول کړم ، لیکن تاسې یې ماته دمسلمانانو دبیت المال څخه راکوئ ، په داسې حال کښې چې زه فقیر نه یم . دامام اعظم صاحب دانظروو چې داسلامي جامعې د داخلي نظام دبهترکولو لپاره باید جد او جهد وشي او په دې سلسله کښې باید دفاسد نظام په مقابل کښې قیام وشي . د ده په نظر دظالم امامت نړیوازی دا چې باطله دی بلکې د هغه خلاف قیام کول جایز دی ، په دې شرط چې دیو کامیاب او مفید انقلاب په ذریعه فاسق له مینځه یوسي او دهغه پرځای صالح او عادل حاکم مینځته راولي.

دحنفي فقهې پیروان په ټول اسلامي ملکونو کښې شته ، اما په افغانستان ، پاکستان ، هندوستان ، ترکیه او چین کښې زیات دي.

امام مالک (رحمة الله علیه)

(۹۳ - ۱۷۹ هجری)

د امام مالک د پلار نوم حضرت انس وو، په خپل وخت کښې یې له لویو لویو علماوو مثلاً امام جعفر صادق او داسې نورو څخه حدیث او نور دیني علوم زده کړل، د علم د تحصیل د فارغ کیدو څخه وروسته یې په نبوي مسجد کښې د تدریس کار شروع کړ او د وفات کیدو تر وخته پورې یې دې کار ته ادامه ورکړه.

امام مالک (رح) د حدیثو یوه مجموعه تیاره کړې وه چې د هغې نوم (موطا) وو په اوس وخت کښې چې د حدیثو څومره مجموعې دي موطا په هغو ټولو کښې پخوانی کتاب دی.

امام مالک ډیر لوی دیانت دار او په خپله زمانه کښې په

حدیثو کښې د ټولو علماوو څخه محکې وو.

یوځل هارون الرشید مدینې ته راغی له امام مالک څخه یې غوښتنه وکړه چې باید زموږ ځای ته راشي او د مؤطا کتاب زما زامنو ته تدریس کړي لیکن امام مالک له تللو څخه انکار وکړ او ویې ویل چا سره چې د ویلو شوق وي هغه په خپله غواړي چې دلته راشي هارون الرشید - خپل دواړه زامن مامون او امین امام صاحب ته راواستل هلته یې شمیره طالبان موجود وو سلطان چې دا ولیدل نو ویې ویل: دا ضعیفان جلا کړه. امام مالک (رح) وفرمایل: د دوو یا څلورو د فایدې له پاره ټولو طالبانو ته نقصان - نه شي رسیدای لکه چې هارون الرشید او د هغه زامنو ټولو طالبانو سره یو ځای لوستل شروع کړل.

کله چې د عباسي حکمران منصور په مقابل کښې د -

محمد نفس الذکیه تحریک قیام وکړ نو امام مالک (رح) فتویٰ
ورکړه چې د محمد نفس الذکیه حمایت باید وشي ځکه چې
منصور د خپل حکومت لپاره جبري بیعت اخیستی وو او جبري
بیعت شرعًا جایز نه وو. د ده د فتویٰ په سبب خلک
د محمد نفس الذکیه سره یوځای نشول، لیکن هغه پخپل انقلاب
کښې مغلوب او په شهادت ورسېد. منصور د ده په فتویٰ ورکولو
سره په قهر شو او ویا دُرې یې ورواهه او د مدینې د بازار په کوڅو کښې
یې د توهین په ډول وګرځاوه، لیکن هغه پخپل قول ثابت پاتې شو او
په دې سزا یې هیڅ پروا ونکړه او د شریعت حکم یې په لوړ آواز
خلکو ته ورساوه. د امام مالک (رح) تألیفات له: موطا
احکام القرآن، کتاب المناسک او تفسیر القرآن څخه.

ن سبا په شمالي او مغربي افریقه کښې د امام مالک (رح) د
فقهی ډېر زیات پیروان لیدل کېږي.

امام شافعی (رح)

(۱۵۰ - ۲۰٤ هـ)

د امام مالک (رح) شاګرد محمد بن ادریس، چې د امام شافعی په نامه سره هم مشهور دی، د خپلې زمانې لوی عالم وو. د ده تألیفات تقریباً سلو کتابونو ته رسیږي، چې د یر کتابونه یې اوس هم موجود دي. له مشهورو تألیفاتو څخه یې المسند، کتاب الأم او د اسې نور دي. امام شافعی (رح) له تحصیل څخه وروسته یمن ته لاړ، په یمن کښې د اهل بیت ډیر حامیان موجود وو. د هارون الرشید غوږونو ته خلکو د ارسولې وه چې امام شافعی (رح) د اهل بیتو له طرفدارانو سره یوځای شوی او د عباسیانو -

د

هارون بن مهدی (الرشید)

دوره

(۱۷۰ - ۱۹۳هـ) (۷۸٦ م - ۸۰۹ م)

د هادي د وفات څخه وروسته دده ورور هارون الرشيد د پلار د وصيت سره سم په تخت کښيناست. د بغداد ښار دده په واخه سلطنت پايتخت وو دا ښار د ديني او دنيايي علومو مرکز وگرځيد، ده خپله عالم او مدبر شخصيت وو. د علماوو سرپرستي به يې کوله. د هارون الرشيد ښځه زبيده پاک لمنې، زړه سواندې او سخي ښځه وه. دې د دجلې د درياب څخه يو نهر تر مکې پورې وا يست ترڅو د حرمينو د اوبو د کموالي تکليف ليرې کړي. دا نهر تر ننه ورځې پورې د زبيدې د نهر

په خلاف تبليغات او پروپاگند کوي څکه چې کومتي مامورين دي گرفتار او بغداد ته ولېږل شو، ليکن ډېر ژر يې برائت حاصل او له محبس څخه را ووت.

د حجاز، مصر، شام او مشرقي افريقي اکثر خلک د شافعي فقهي پيروان دي. په اسلامي دنيا کښې د حنفي فقهي څخه وروسته د شافعي فقهي پيروان زيات دي.

امام احمد بن حنبل (رح)

(۱٦٤ - ۲٤۱ هـ)

په هغه زمانه کښې څلورم لوی عالم د امام شافعي (رح) شاگرد امام احمد بن حنبل دی. امام احمد بن حنبل پخپله زمانه کښې په حديثو کښې لوی عالم و، ده د مسند په نامه د حديثو يو لوی کتاب وليکه چې -

تقریبًا د (٤٠٠٠) حدیثو مجموعه وه.

دامام شافعی (رح) په شان امام احمد هم غریب وو. دخلیفه معتصم په زمانه کښې دمعتزله فرقې هرخوا فعالیتونه وو امام احمد یې په دې جرم په درو وواهه او په زندان کښې یې واچاوه چې هغه په دې اقرار نه کاوه چې قرآن مخلوق دی.

نن سبا په سعودي عربستان کښې دحکومت سرکاري مذهب حنبلی مذهب دی. کله چې امام احمد په بغداد کښې وفات شو، د ده په جنازه کښې (٨٠٠٠٠٠) کسانو گډون وکړ.

امام جعفر صادق (رح)

(۸۰ - ۱٤۸ هـ)

امام جعفر صادق د امام باقر (رح) زوی وو. ده خپل ټول علوم له خپل پلار څخه زده کړل. امام اعظم ابوحنیفه (رح) او امام مالک (رح) د ده له شاگردانو څخه وو. یو ځل د حج په موسم کښې د مسلمه بن عبدالملک په وړاندې په یوه فصیحه او بلیغه خطبه کښې د اهل بیتو سره والي او د بنی امیه ؤ ظلم او تیري ته اشاره وکړه بیا دی د هشام بن عبدالملک له خوا راوغوښتل شو او په دې باره کښې یې ورڅخه پوښتنه وکړه، ده ټوله واقعه په عین شکل ورته بیان کړه.

په همدې ترتیب یوځل خلیفه منصور بغداد ته-
راوغوښت، لیکن هغه ورته په واضح ډول ولیکل:
«کوم شخص چې له تاڅخه د دنیا طمع او توقع لري،
هغه تا ته صحیح نصیحت نشي کولای، اوکوم شخص
چې د آخرت د فایدې غوښتونکی وي هغه ته-
ستا له ملاقات څخه کومه فایده نشي رسیدلای»
منصور ته چې داځواب ورسید، نو خاموش
شو.

حضرت امام جعفر صادق د امامیه فرقې د لویو
مجتهدینو له جملې څخه دی چې شیعه خپله فقه ورته
منسوبوي. دا فرقه د جعفري مذهب په نامه
یادیږي.

امام غزالی (رح) (۴۵۰-۵۰۵ هـ)

او اشاعره فرقه

امام محمد غزالی (رح)، د خراسان د طاهران په منطقه کښې په (۴۵۰ هـ) کښې پیدا شوی دی. د علومو د سرته رسولو څخه وروسته د نظام الملک طوسي د نظامیه کالج مدیر مقرر شو. د علم او کمال له کبله د سلطنت دارا کینو په جمله کښې شمېرل کېده او د سلطنت ټولې چارې به د ده د مشورې څخه پرته نه اجراء کېدلې.

د څه مودې څخه وروسته د تصوف په خوا مایل شو، جاه او جلال یې ترک کړل او نهایي ساده ژوند

یې غوره کړ . په همدې وخت کښې یې د احیاء العلوم

په نامه یو کتاب ولیکه چې د دېرو نادرو او لوړو

کتابونو له جملې څخه شمېرل کېږي . د اشاعره ؤ په فلسفه

کښې ښکاره تبدیلی راوسته ، په دې ډول اشعري

مکتب مفکوره یې د شرعی اصولو مطابق وګرځوله .

امام غزالي (رح) د حق په لټونه کښې د ټولو مذهبي

فرقو تعلیمات په غور سره مطالعه کړل . هغه په خپل

کتاب تهافة الفلاسفه » کښې د فلاسفه ؤ د عقاید و عقلي

ثبوت په ذریعې باندې زور ورکول رد کړل . په

آخري عمر کښې د هغه دا نظر وو چې په دین کښې

مناظره او تعصب حرام او ناجایز دی . د صوفیانو

مسلک ته یې ترجیح ورکوله او بالاخره یې د صوفیانو

مسلک یې غوره کړ . د خپلې زمانې په مروجه

تعلیم او تعلم کښې یې د روش له پلوه کافی تغییر او تحول راوست ، همدارنگه هغه د دې خبرې قایل وو چې د انسانیت د تکمیل لپاره د اکتسابی علوموحاصلول کافی نه دي ، بلکې د حقیقي اخلاقو او معرفت په برخه کښې د شیخ یا کامل پیر رهنمائي اختیارول ضروري دي . د علم او عمل د یوځای والي څخه انسان حقیقي مقام ته ځان رسولای او هغه حاصلولای شي.

اشاعره فرقې ته ځکه اشاعره وایي چې ددې فرقې مؤسس ابوالحسن اشعري وو . ابوالحسن اشعري د معتزله فرقې سرسخت مخالف وو.

امام بخاري (رح)

(۱۹٤ - ۲۵٦هـ)

دهغه وخت په محدثينو كښې محمد بن اسمٰعيل چې د امام بخاري رح په نامه سره مشهور وو، ډېر ممتاز دى. هغه د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم احاديث او د هغه د ژوندوا قعات په ډېر تحقيق سره يو كتاب كښې جمع كړي چې دا كتاب د "بخارى" په نامه سره شهرت لري. د دې كتاب په ليكلو كښې د امام بخاري (۳۰) كاله عمر صرف شوى، ليكن دا د حديثونو ډېر صحيح كتاب دى چې مسلمانان يې د قرآن كريم نه وروسته د دنيا د ټولو كتابونو نه صحيح كتاب بولي.

امام بخاری (رح) د هغه زمانې د لویو علماؤ په ځېږ د تجارت کسب کاوه ، هغه ډېر دولتمن وو لیکن ساده ژوندېې تېراوه ، او د خپلو روپیو څخه یې د نورو سره کمک او مدد کاوه .

پوښتنې

۱- له مامون څخه ورسته څوک په تخت کښېناست او په لومړیو وختو کښې د چا له بغاوت سره مخامخ شو ، واضح یې کړئ ؟

۲- د عباسیانو د دورې مهم کارونه بیان کړئ ؟

۳- د عباسیانو د حکومت نظام په اجمالي توګه ولیکئ ؟

٤- د انصاف محکمه څرنګه وه او قاضی القضاة

د کوم ځای قاضي وو؟

۵- د عباسیانو د دورې د تصنیف او تألیف په باره

کښی اجمالي معلومات ورکړئ؟

۶- د امام ابوحنیفه(رح) پلرنی وطن کوم ځای

دی او د ده مرتب شوي قوانین په کوم نوم-

سره یاد یږي؟

۷- د امام مالک(رح) د احادیثو مجموعه په کوم

نامه سره یا د یږي واضح یې کړئ؟

۸- د امام شافعی(رح) اصلی نوم څه دی،

او څو مره کتابونه یې تألیف کړی دی، واضح

یې کړئ.

۹- امام حنبل(رح) په کوم نوم د احادیثو

کتاب مرتب کړی دی او څو مره -

په نامه شهرت لري. ځيني بغاوتونه چې د هادي په زمانه کې منځ ته راغلي وو، د ده په واسطه له مينځه يوړل شول.

د هارون الرشيد ځيني سفارتي تعلقات

د چين د شهنشاه او د هندوستان د راجه سره د هارون الرشيد دوستانه تعلقات وو او همدا رنګه د فرانسې سره يې هم دوستانه تعلقات درلودل. د همدې تعلقاتو په اساس هغه ګړی چې اسلامي پوهانو جوړه کړې وه د فرانسې پادشاه شارلمان ته د هارون الرشيد له خوا واستول شوه، شارلمان د ساعت په ليدلو سره حيران شو او ګمان يې وکړ چې بنائي د ساعت دننه به کوم پيری «جن» ناست وي.

احادیث یې پکښې ځای کړی دی، واضح یې کړئ؟

۱۰- د امام بخاری (رح) نوم څه دی او په څو کلونو کښې یې بخاري شریف ترتیب کړی دی، واضح یې کړئ؟

«پای»

دچاپ کال حمل ۱۳۶۹ دچاپ شمیر (۵۰۰۰)

دتعلیمی مرکز دنصاب مدیریت

دافغانستان دتعلیمي مرکز دنصاب
اهداف

عمومي هدف: د ټولوجهادي تنظیمونو د تعلیمي نصاب توحید، د یومتوازن او جامع اسلامي ښوونې او روزنې منځ ته راوړل چې د هر ډول باطل پرستې او بدعتونو ضد وي، همدا رنګه د اسلامي کُلي قوانینو او مفاهیمو استحکام د افغانستان په اسلامي ټولنه کښې غواړي.

خصوصي هدف: داسې نصاب دی چې د اسلام سپاهیان او د حقیقت لاره تلونکو ته د یو والي او وحدانیت لار ښوونه کوي ترڅو چې دوي په مستحکم او دایمي توګه د عالي او معقولو اسلامي سنتو او قوانینو متمسک وي.

دا نصاب د اسلامي ښوونې او سواد ((د جهادي، فرهنګي، فلسفي، اقتصادي، تخنیکي، مدني، معیشتي شرایطو په نظر کې نیولو سره)) ضامن دی.

چې په عین وخت کې د نه شلیدونکي پیوستون ممثل او اتصالات د اسلامي نړۍ سره وي او د اسلامي مقدسو حقایقو مبین وي.

آخري هدف: د کلمة الله اوچتوالی، د اسلام د شان او عظمت ښودل نړیوالو ته، د کفر او کمونیزم اضمحلال، په افغانستان او نړۍ کې د سپیڅلي قرآن د اصولو او قوانینو او د محمدی (رض) غرا شریعت د حنفي فقه په اساس خاص د خدای د رضا د حاصلیدلو په نیت د زماني د طاغوطیانو سره مبارزه د دې تعلیمي نصاب آخري مرام دی.

د هارون الرشید اخلاق، سیرت او کارنامې

د هارون د حکومت دوره د اسلام په تاریخ کښې یوه طلائي دوره وه، په دې دورې کښې د مسلمانانو ژوند د علمي او سیاسي پرمختګ له پلوه انتهائي معراج ته رسیدلی وو د قوت او ثروت او د شان او شوکت له پلوه د دنیا هیڅ قوم د مسلمانانو سره سیالي نشوه کولی د هارون د نیک بختۍ نه بغداد کښې د هر فن استادان راټول شوي وو.

د امنیت د خوندي کولو په لاره کښې یې پوره هڅه کوله په خپله یې د دولت د ټولو چارو څارنه کوله، د ده په ټول هیواد کښې کراره کاري وه او خلک له هره پلوه خوښ او خوشحاله وو، د ده په زمانه کښې مسجدونه بنوونځي، مدرسې رغنونه، کاروان سرایونه، پلونه

او لوېي لوېي و يالي جوړې شوې .

هارون الرشيد علم او هنر ته ډېره توجه درلوده

څکه نو د بيانو، صنايعو او علومو په دغه وخت کښې ښه

پرمختګ وکړ.

هارون الرشيد په ۱۹۳ ه کال کښې وروسته له «۲۳»

کاله حکومت کولو څخه وفات شو.

د برمکیانو عروج او زوال

د هارون الرشید د سلطنت دوره د عباسیانو د دوری بهترینه زمانه وه. او برمکیانو په دې برخه کښې له هغوی سره ډېر زیات کمک وکړ.

برمکیان د بلخ څخه وو او کله چې مسلمانانو بلخ فتح کړ برمک د دمشق ته لاړ او هلته د ولید ثاني له خوا ورته د کتابت وظیفه وسپارل شوه، د هغې څخه وروسته کله چې خراساني ابومسلم د عباسیانو د دعوت سلسله په خراسان کښې پیل کړه د برمک ځوی خالد دیوه داعي په صفت له ابومسلم سره یوځای شو کله چې عباسیان بریالي شول. ابوالعباس سفاح خالد خپل وزیر وټاکه د منصور په وخت کښې هم تر ډېرې مودې پورې دا شخص د وزارت په چوکه

پاتې شو د خالد ځوی یحیی د خپل پلار په شان هوښیار

سیاست مدار وو (۱۷) کاله یې په عباسي سلطنت کې چارې سرته

ورسولې هارون الرشید هغه صدراعظم وټاکه او

مسـنبر ې ورته وسپارل او په دغه توگه یې یحیی

د هیواد په ټولو چارو کښې د واک خاوند وباله د یحیی

څلور ځامن وو چې فضل ، جعفر ، محمّد او موسیٰ نومیدل

دوی د پلار په شان د ښه فکر او پوهې خاوندان وو

فضل چې لومړی د خراسان او بیا د مصر والي شو خپل

استعداد او لیاقت په ښه توگه څرگند کړ هر کله چې

یحیی د ځوړوالي له کبله د صدارت له چارو څخه لاس

واخیست د هغه پر ځای یې د ده ځوی فضل مقرر کړاو بیا

د ده څخه ور وسته یې بل ځوی جعفر د هغه پر ځای

صدراعظم شو هغه هم د پلار په شان یوه لحظه د مملکت

په چارو کښې لټي او تنبلي ونکړه.

دبرمکي کورنۍ عام المنفعه اقدامات دهغوی دځينو مخالفانو د سترګو اغزی شول ترهغې چې بالاخره هارون الرشيد پدې کورنۍ باندې بدګمانه شو او په ۱۸۷ هـ کښې يې خپل صدر اعظم جعفر وواژه يحيیٰ او فضل په بنديخانه کښې مړه شول دې واقعې د هارون الرشيد دحکومت دوره داغداره کړه.

دمحمد امین بن هارون

دوره

(۱۹۳ - ۱۹۸ھ)

دهارون الرشید د وفات څخه وروسته په ۱۹۳ھ کښې امین په تخت کښیناست امین بې تدبیره او عیاش انسان وو. ده د پلار د وصیت په خلاف خپل ځوی ولیعهد وټاکه کله چې مامون ددې پیښې نه خبر شو ددې له امله چې د امارت حق یې دځان گاڼه ځکه نو د امین په خلاف راپورته شو. د مرکز سره یې اړیکې پرې کړې او په خپله یې دسلطنت اعلان وکړ. او د بغداد په لوري یې مخه وکړه، امین سم د لاسه پنځوس زره عسکر ولیږل علی بن عیسی مخکښې له دې څخه چې خراسان ته ورسیږي د ری، سره نژدې دطاهر له خوا ووژل شو بل کال بیا امین نوی او تازه لښکر د مامون

مخې ته ورولېږه خو داخل هم د ماتې سره مخامخ شو او طاهر د امين لښکرې تر بغداده پورې وزغلولې.

په ۱۹۸هـ کال کښې یې بغداد ونیو او امین یې بندي کړ. وايي چې د څوتنو په وسیله یې امین ووژه او د هغه سر یې مامون ته چې په مرو کښې وو واستاوه او په دې ډول د مامون امارت ته ورسید.

د عبد الله بن هارون (مامون الرشید) دوره

(۱۹۸ - ۲۱۸ هـ)   (۸۱۳م - ۸۳۳م)

د امین د قتل څخه وروسته په ۱۹۸هـ کښې مامون د سلطنت په تخت کښېناست د مامون ـ

تربیت د جعفر برمکي تر نګرانۍ لاندې شوی وو پدې علت سره په هغه وخت کښې د علم او فضل له پلوه ډېر اوچت شخصیت وو. د ۱۹۸ څخه تر ۲۰۳ هـ پورې مامون خپل پایتخت مرو چې د خراسان پورې مربوطه سیمه وه وټاکله او وروسته بیا د ۲۰۳ څخه تر ۲۱۸ پورې یې امام رضا په لار ښوونه بغداد خپل پایتخت وټاکه. دا دوره د اسلام په تاریخ کښې د علم او فن د ترقۍ په لحاظ ډېره مهمه دوره شمېرل کېږي. مامون خپله لور د فضل بن سهل په مشوره امام علی بن موسی رضا ته ورکړه. امام علی رضا یې ولی عهد کړ او د علویانو شین بیرغ یې د عباسیانو د تورې جنډې په ځای وځړاوه. طاهر فوشنجي یې خپل سپه سالار وټاکه. مامون په بغداد د کښې د خلکو بدامنې له منځه یوړه او نور بغاوتونه هم چې د مامون په وخت کښې پیدا شوې وو دده په تدبیر سره له منځه لاړل.

بسم الله الرحمن الرحیم

لومړی فصل:

دعباسیانو حکومت

(۱۳۲هـ - ۶۵۶هـ)

لومړی: عباسیان

دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم دحقیقي تره (حضرت عباس (رض)) اولاد په تاریخ کښې د بني عباس په نامه سره یادیږي، دعباسیانو په وخت کښې د اسلامي مملکت پایتخت د دمشق څخه عراق ته انتقال شو.

د مامون وفات او صفات

مامون وروسته له شلوکلو او پنځو میاشتو حکومت کولو څخه وفات شو. د علم او فضل له پلوه یې په ټولو عباسي حکمرانانو کښې ډېر اوچت مقام درلود. په تفسیر، فقه فلسفه، شعر او ادب کښې یې پوره مهارت درلود د قرآن کریم حافظ هم وو.

د ده په دوره کښې عدل او انصاف ته خاصه پاملرنه کېدله او د عدالت یا قضاء په دفتر کښې غریب او معتبر سته یو شان کتل کېدل. په خپله دی به هم د معمولي انسانانو په څېر د قاضیانو په مخکښې درېده او د فیصلو به یې احترام کاوه.

دابواسحق محمد بن هارون

«معتصم بالله» دوره

(۲۱۸ - ۲۲۷ هـ)
(۸۳۳ - ۸۴۲ م)

د مامون د وفات څخه وروسته فوځ غوښتل چې عباس د مامون ځوی پرتخت کښینوي لیکن عباس د پلار د وصیت احترام وساته او خپل تره ته یې بیعت وکړ نو په دې ترتیب سره المعتصم بالله د عباسي سلطنت حکمران وټاکل شو.

معتصم د مامون پیروي وکړه، خپل حفاظتي فوځ کښې یې ترکي سپاهیان شامل کړل.

مامون پخپله دوره کښې د سلطنت د نظم او نسق

له پاره   دعربانو پرځای د ایرانیانو څخه کار واخیست
دمعتصم په دوره کښې دترکانو زیات شمېر په فوځ کښې
لیدل کیدل که څه هم دیوې خوا دېر ګټور ثابت شول ځکه
چې ترکان دېر جنګیالي خلک وو، مګر د بلې خوا هر څه
به چې فوځ و غوښتل هم هغسې به کېدل د دوی په اشاره
به خلیفه معزول شو او یا به   و   تاکل شو معتصم
د ترکي فوځ له پاره د سامرا ښار د بغداد په شمال کښې
«۷۵» میله لیرې د دجلې د دریاب په غاړه جوړ کړ چې
تقریباً له (۲۲۱ څخه تر ۲۷۹ هـ) پورې دا ښار د عباسي خلیفه ګانو
پایتخت وو سره له دې چې وروسته بیا بېرته بغداد ته انتقال شو. معتصم په کال
«۲۲۷ هـ کښې وفات شو. دی تند مزاجه او سخت ګیر انسان
وو لیکن زړور او ښه تنظیم کوونکی وو.

د ابو جعفر هارون (واثق بالله) دوره

(۲۲۷-۲۳۲هـ) (۸۴۲ - ۸۴۷م)

دمعتصم دوفات څخه وروسته د ده ځوی واثق بالله پرتخت کښیناست، سره ددې چې ده د علم او فن سره ډېره زياته علاقه درلوده د ده په وخت کښې صنعت او تجارت ته خاصه پاملرنه وشوه دی يو عياش اوشراب خور انسان وو.

په فوځ کښې يې د عربو او ايرانيانو په مقابل کښې ترکانو ته ترجيح ورکوله جرنيل اشناس يې چې د ترکانو څخه وو د نايب سلطنت په حيث مقرر کړ، د شام او فلسطين عربو ددې پاليسي خلاف شور شو نه وکړل ليکن د ترکي فوځ له خواغلي کړی شول، په ۲۳۲ هـ کښې خليفه واثق وفات شو.

دجعفربن معتصم (المتوکل علی الله)
دوره

(۲۳۲ - ۲۴۷هـ) (۸۴۷م- ۸۶۱م)

دواثق دوفات ځنې وروسته دهغه وروروړ متوکل په تخت کښیناست. دی ډېر تند مزاجه اوسخت ګیره انسان وو، دمعتزلوو په خلاف یې جهاد اعلان کړ، هغه کسان چې دتېرو حکومتونو له خوا دمعتزله عقیدې د نه قبلولو په جـــرم بندیان شوي وو، خوشي کړای شول.

دعباسي حكمرانانو د انحطاط او زوال دوره

(٢٤٧-٦٥٦هـ)　(٨٦١-١٢٥٨ع)

دمتوکل دقتل سره سم دبني عباس دزوال لمړۍ دوره شروع کیږي. دمتوکل څخه وروسته (٢٧) عباسي حکمرانانو حکومت وکړ او آخرنی سلطان يې مستعصم بالله وو. ددې په وخت کښې دعباسیانو فوځي طاقت ډېر کمزوری وو، دسلطان سیاسي وقار دخلکو په وړاندې ډېر ټیټ وو ترکي او بویهی سردارانو په تمام اسلامي سلطنت باندې قبضه کړې وه دسلطان دربار ددې سردارانو دسازشونو مرکز ګرځیدلی وو. پدې حالاتو کښې دتاتاریانو له خوا دعباسي سلطنت په پایتخت بغداد باندې حمله وشوه بغداد

يې وني‌وه او مستعصم بالله يې وواژه.

د مستعصم بالله د وژلو نه وروسته د ده تره ابوالقاسم احمد د تاتاريانو د قيد څخه ځان خلاص کړ او په ۶۵۹ هـ کښې د څو عربي سردارانو سره مصر ته ورسيد، هلته د غلامانو د کورنۍ څلورم پادشاه ملک الظاهر بيبرس حکمران وو ده ابوالقاسم ته ښه راغلاست وويل او په تخت باندې يې کښيناوه. د ده نه وروسته د مصر په ټولو مساجدو کښې د ده په نامه نه يوازې خطبه وويل شوه، بلکې په ټول ملک کښې سکه هم جاري شوه پدې طريقې سره عباسي خلافت بغداد نه مصر ته منتقل شو، مصر کښې (۱۸) عباسي خليفه ګان تېر شوې دي د دوى د حکمرانۍ دوره له ۶۵۹ څخه تر ۹۲۳ پورې وه ليکن پدې موده کښې د مملکت حقيقي قدرت د اُمراوو په لاس کښې وو او هغوى د مملکت د نظم او نسق، د سرو او

سپينو خښتن وو عباسي حکمرانان دوی ته محتاج وو

حتی دوی ته دومره اختيارات هم نه وو لکه څومره چې د دوی

پخوانيو ته د ديلمي او سلجوقيانو د سيورې لاندې حاصل وو.

په مصر کښې د عباسي سلاطينو د حکمرانۍ دوره

(٦٥٩ - ٩٢٣هـ)

مستنصر بالله

(٦٥٩ - ٦٦٠هـ)

مستنصر بالله قاهره کښې د يو څه وخت تيرولو څخه وروسته د عراق د تللو اراده وکړه په لاره کښې د تاتار يانو فوځ سره يې جګړه وشو، د ډېرو ورځو تيرولو څخه وروسته مصري فوځ شکست وخوړ د خپلې ناکامۍ څخه مايوس او ځان يې مخفي کړ - ځينې وايي چې په همدې جنګ کښې ووژل شو.

حاکم بامر الله

(٦٦١ - ٧٠١ هـ)

د مستنصر نه وروسته ظاهر بيبرس د عباسي خاندان

یو شخص ابو العباس احمد په قاهره کښې مقرر کړ. نوی
حکمران د حاکم بامرالله لقب غوره کړ. وروسته له یو وخت
څخه د ده او ظاهر ترمنځ اختلاف پیدا شو دی یې
بندي او نظر بند کړ دده د حکومت موده د (٤٠) کلو څخه
زیاته وه سره لدې چې دده په نامه سکه جاري شوه او خطبه
هم دده په نامه ویل کیده لیکن دده د حکومت زیاته
موده په زندان کښې تېره شوه او په (٧٠١ ھ) کښې وفات شو.

لومړی مستکفی بالله

(٧٠١ - ٧٤٠ ھ)

د حاکم د وفات څخه وروسته دده ځوی سلیمان
د مستکفي بالله په لقب سره د سلطان ناصر له خوا
پر تخت کښیناست، د دوی ترمنځ پوره (٣٠) کاله روابط
ډېر ښه وو لیکن شرپسنده عناصرو د دوی په منځ کښې

ابوالعباس سفاح

(۱۳۲ هـ - ۱۳٦ هـ)

دعباسیانو لومړی حکمران ابوالعباس عبدالله بن محمد (سفاح) و، د ډېرو وینو تویولو په اساس ورته د سفاح لقب ورکړل شو دده په وخت کښې دحجاز والي (داؤدبن علي) دمکې او مدینې امویان ټول د تیغ څخه تېرکړل. سلیمان د بصرې امویان په قتل ورسول او عبدالله بن علی شام کښې او سیدونکي امویان قتل عام کړل. لنډه داچې سفاح پخپله څلور کلنه دوره کښې دخپل خاندان انتقام له امویانو څخه واخیست. دامیر معاویه، عبدالملکؒ، یزید او نورو اموی خلیفه ګانو قبرونه یې لوټ کړل ددوی هډوکي یې ورڅخه وایستل او ویې سوځول.

بد گماني پيدا کړه د سلطان اقتدار او تنخوايي کمه کړه بالاخره په (۷۴۰ه)

کښې وفات شو. د ده څخه وروسته واثق بالله سلطان

شو د ده دوره شپږ مياشتې دوام وکړ کله چې دی

معزول شو د ده پر ځای احمد بن مستکفی د حاکم دويم

بامرالله په لقب سره د سلطنت په تخت کښينا ست

د دې حکمران په زمانه کښې د مصر اووه فرمان روايان

تېر شول د وی تول حاکم بالله ته د قدر په سترگه کتل

حاکم په (۷۴۸) ه کښې وفات شو او د ده پر ځای د ده ورور ابوبکر

بن مستکفی د لومړي معتضد بالله په لقب سره په تخت کښيناست

ده تقريبًا (۱۵) کاله حکومت وکړ، په هدې ترتيب سره د مصر

ټول قدرت د مصر د اُمراوو سره وو.

پوښتنې

۱- د هارون ښځه څه نومېده او څه مهم کارونه يې وکړل؟

۲- هغه ساعت چې د هارون الرشيد په وخت کښې جوړ شوی و کوم بادشاه ته ولېږل شو؟

۳- د هارون الرشيد د سيرت او کارنامې په باره کښې لنډ معلومات ورکړئ؟

۴- د يحيٰی برمکي څو زامن وو، د پوهې او فضل له مخې د چا په شان وو؟

۵- مامون خپل پايتخت کوم ځای و ټاکه او د ده په دوره کښې د عدل او انصاف په هکله لنډ معلومات ورکړئ؟

۶- د امین د شخصیت په باره کښې لنډه تبصره وکړئ؟

۷- د معتصم بالله په وخت کښې کوم خلک په فوج کښې ډېر وو او کوم کارونه به یې کول؟

۸- واثق بالله څنګه سړی وو؟

۹- د معتزله وو په خلاف کوم حکمران جهاد اعلان کړ؟

۱۰- د عباسیانو وروستی حکمران څوک وو په کوم کال کښې او د چا په واسطه له منځه ولاړ؟

دعباسيانو د دولت کمزوري

له مامون څخه وروسته د هغه ورور ابو الاسحق چې په معتصم بالله ملقب وو په تخت کښيناست، دی د حکومت په لمړيو وختو کښې د عربو او خراسانيانو د بغاوتو سره مخامخ شو ددې اړه دوړ د غلی کولو له پاره يې ترکي عسکر راټول کړل او په خپلو جګړو سپاهيانو کښې يې ننه ايستل د ترکانو سر دارانو ته يې لوی، لوی لقبونه ورکړل، د ده د دې خامه سياست په اثر ترکانو بر طاقت پيدا کړ د معتصم څخه وروسته د ترکانو اقتدار دې حد ته ورسيد چې د بغداد پاچاهان يې په خپل حکم له منځه وړل او يا تاکل .

د معتصم نه وروسته د عباسيانو له کورنۍ څخه (۲۹) تنو نورو پاچاهي وکړه خو اقتدار يې ورځ په ورځ کمېده او له

مینځ، تللو په شاو خوا کښې یې خپلواک دولتونه لکه ادریسی، آزاد اموي، طاهري، صفاري، ساماني، غزنوي او داسې نور، مینځ ته راغلل. دعباسیانو پنځه دېرشم پاچا په زمانه کښې چنګېز دخوارزم شاهانو په دولت تېری وکړ، لوټنه او وژنه یې و ښلوله چې دی وضعې په بغداد کښې هم اغېزه وکړه او هلاکو دچنګېز لمسی په (۶۵۶هـ) کښې بغداد کلابند کړ او دعباسیانو پاچاهي یا دعباسیانو اسلامي مدنیت یې له مینځه یووړ.

دویم فصل :

په اسلامي نړۍ کښې خانخاني

دوړه او لویو نیمه خودمختارو سلطنتو نو مینځ ته راتلل

دعباسي پاچاهانو په زمانه کښې دمرکزي حکومت دکمزورۍ په سبب ټول اسلامي هیواد کښې خانخاني شروع شوه ځو واړه اولوی مستقل او نیمه مستقل - سلطنتونه مینځ ته راغلل چې د هغې ذکر په لاندې ډول کیږي :

په افریقه کښې دادریسي حکومت جوړېدل

دهادي په زمانه کښې ادریس بن عبدالله بن حسن دافریقې په لوړ وتښتید هلته دبربریانو قوم دده بنه هرکلی وکړ دېړلن وخت کښې یې په شمال لویدیځ

افریقه کښې یو آزاد حکومت ټینګ کړ او د دې حکومت اساس
او بنسټ د ادریسي کورنۍ کېښود.

په هسپانیا کښې د آزاد اموي حکومت جوړېدل

عبدالرحمٰن بن معاویه بن هاشم چې د امویانو د کورنۍ
څخه وو د عباسیانو د کورنۍ د رامینځ ته کېدلو سره

سم د عباسیانو څخه وتښتید، هسپانیې ته یې ځان ورساوه
او هلته یې د یو آزاد اموي حکومت بنسټ کېښود. د امویانو
او عباسیانو د مخالفت سره سره څو سوه کاله دا حکومت په
هسپانیه کښې ټینګ پاتې شو.

د طاهریانو خودمختاره حکومت

(۲۰۵ - ۲۵۸ هـ) (۸۲۰ - ۸۷۲ ع)

د دې حکومت بنسټ د مامون الرشید یو

فوځي جرنيل طاهر بن حسين کېښنو د. دهارون الرشيد
د وفات څخه وروسته کله چې د مامون او امين ترمينځ کورنۍ
جګړې شروع شوې نو د مامون دفوځ يوه برخه د طاهر
ترمشرۍ لاندې د امين په مقابل کښې په جګړه بوخته وه.

طاهر د مامون له خوا د خراسان والي مقرر شو لېکن
د مقررۍ څخه يې دوه کاله وروسته خپله خود مختاري
اعلان کړه.

خالد بن احمد د مامون صدر اعظم طاهر ته زهر
ورکړل او طاهر په همغه زهرو وفات شو لیکن د خراسان
ولايت په مستقل ډول په خپل حال د طاهر اولادې ته
پاتې شو چې دا دولت د طاهريانو په نامه سره ياد شو.

د دې دولت مشهور حکمران عبد الله بن طاهر وو
چې د ده پايتخت د نيشاپور ښار وو. دا کورنۍ په (۲۵۸ هـ)
کښې له مينځه ولاړه.

په طبرستان کښې د علوي یا زیدیه حکومت تشکیل

(۲۵۰ - ۳۱٦ هـ)

د طبرستان او سیدو نکې د خپل والي سلیمان څخه په تنګ شول د حسن بن زید ترمشرۍ لاندې یې بغاوت وکړ شاهي فوځونه د ده د ټکولو له پاره ولیږل شول لیکن حسن بن زید هغوی ته ماتې ورکړه په (۲۵۰ هـ) کال کښې یې حکومت جوړ کړ او شل کاله یې حکومت وکړ.

حسن بن زید یو سخي، عالم، فاضل او غریب پالونکی حکمران وو. د ده د وفات څخه وروسته محمد بن زید پر تخت کښیناست، اسماعیل ساماني ور باندې حمله وکړه ټپي شو او ماتې یې وخوړه او له یو څه مودې وروسته وفات شو. اسمٰعیل ساماني طبرستان باندې قبضه وکړه او ویې نیوه.

په سیستان کښې د صفاریانو د دولت تشکیل

(۲۵۴ - ۲۹۰ هـ) (۸۶۷ - ۹۰۳ ع)

یعقوب بن لیث د بنو طاهر څخه د سجستان علاقه ونیوله بیا یې بلخ، کرمان، هرات، ټول شمالي ایران او طبرستان باندې قبضه وکړه او د صفاریانو د دولت بنسټ یې کیښود. د یعقوب بن لیث په وخت کښې د هیواد نظم او نسق ډېر ښه وو. او خلکو په امن او امان سره ژوند کاوه.

د یعقوب د وفات څخه وروسته د ده ورور عمر بن لیث پر تخت کښیناست. د امیر اسمٰعیل ساماني سره یې جنګ پیل کړ لیکن عمر بن لیث ماتې وخوړه او وو ژل شو. د دې څخه وروسته د صفاریانو د دولت زوال شروع او په (۲۹۸) کښې د دوی د سلطنت دوره پای ته ورسیده.

د سفاح داوژني يوانې په دشمنانو پورې محدودې نه وي بلکې د ده په امر باندې د ده نژدې ملګري هم ووژل شول. ابو سلمه يې دلمړي وزير په حيث مقرر کړ ليکن له يوڅه مودې وروسته يې هغه وواژه.

د ابو سلمه له وژلو وروسته دوزارت چوکۍ خالد برمکي ته وسپارل شوه. خالد يو عجمي مسلمان و و د اهليت او استعداد له کبله په هغه زمانه کښې يواځنی شخص و. سفاح پس له څلورو کلونو په ۱۳۶ هجري کښې وفات شو.

دسامانیانو دحکومت تشکیل

(۲۶۱ - ۲۸۹ هـ)

دمامون الرشید په وخت کښې احمد دفرغاني حاکم وو. دده اولاد دسامانیه قومي سلطنت بنسټ کېښود. داحمد وړوکی څوی اسمعیل سامانی سلطنت ته بنه پراختیا ورکړه دهغه په سلطنت کښې خراسان، ترکستان، سمرقند او دماوراءالنهر سیمې شاملې وې او بخارا یې پایتخت ټاکلی وو.

داسمعیل څخه وروسته دساماني کورنۍ اووه فرمانروایان تېر شوي چې مشهور یې نصر ثاني او نوح ثاني وو.

دسامانیانو آخرنی حاکم دوهم عبدالملک دترکستان د حاکم ایلک خان په واسطه په (۹۹۹ع) کښې ونیول شو او په دې ډول دسامانیانو دکورنۍ سلطنت له مینځه ولاړ.

د بنو حمدان حکومت (۲۹۳ - ۴۰۲ هـ):

مکتفي په (۲۹۳هـ) کښې د عربي قبیلې (بنو تغلب) یو سردار عبدالله بن حمدان د موصل حاکم مقرر کړ په همدې ځای کښې د بنو حمدان حکومت پیل کېږي د بنو حمدان حکومت کښې موصل، دمشق او د حمص سیمې شاملې وې - د بنو حمدان وروستی فرمانروا سعدالله وو چې د ده د مرګ نه وروسته د بنو حمدان سلسله هم پای ته ورسیده.

په مصر کښې د فاطمي حکومت تشکیل

(۲۹۶ - ۵۶۷ هـ)

عبیدالله بن میمون په ۹۰۹ع کال په مصر کښې د فاطمیانو د دولت بنسټ کېښود تقریباً څه کم درې سوه کاله د فاطمیانو حکومت د بغداد د عباسیانو رقیبان وو، سلطان صلاح الدین

په (۱۲) عیسوي پېړۍ کښې مصر فتح او د فاطمیانو د حکومت لړۍ
یې له مینځه یوړه.

دغزني ترکي سلطنت جوړېدل

(۳۵۱ - ۵۸۲ هـ) (۹۶۲-۱۱۸۶ ع)

د ساماني کورنۍ بادشاه عبدالملک یو غلام (الپتگین)

چې د ښه تربیت او لیاقت په اساس د خراسان حاکم مقرر شوی وو
د عبدالملک د وفات څخه وروسته په غـــزنـــي کښې د آزاد
سلطنت بنسټ کېښود.

دوه ځلې ساماني پاچا په غزني باندې حمله وکړه لیکن
ناکام شو. بالاخره د بخارا پادشا مجبور شو چې الپتگین
د غزني د والي په صفت قبول کړي او الپتگین تر ۲۰ کلونو
پورې په غزني حکومت وکړ د الپتگین څخه وروسته
یې ځوی ابو اسحق د غزني پر تخت کېناست د ی د څه مودې

حکومت کولو څخه وروسته مړ شو د ده څخه وروسته د الپتگین دوه غلامانو امیر بلکاتگین او امیر پیری یو د بل پسې دغزني پر تخت کښیناستل د امیر بلکاتگین څخه د ترک امیران او دغزني خلک ډیر خوښ وو. اما امیر پیری ډیر ظالم سړي وو پدې ترتیب سره څلور یا پنځه کاله وروسته د خلکو له خوا معزول او پر ځای یې سبکتگین وټاکل شو. سبکتگین هرات او مکران ونیول، د بخارا بادشاه سبکتگین ته د ناصرالدین لقب ورکړ او همدارنگه یې دخراسان سیمه هم ده ته تسلیم کړه. په هغو ورځو کښې د پنجاب فرمانروا راجه جیپال وو، سبکتگین هغه ته ماتې ورکړه او د پېښور سیمه یې ونیوله. سبکتگین په ۹۹۷ ع کښې وفات شو.

سلطان محمود غزنوي

(٣٨٩ - ٤٢١ هـ)

د سبکتگین له مړینې څخه وروسته د هغه له وصیت

سره سم اسمٰعیل د سبکتگین کوچنی ځوی پر تخت کښیناست

پدې وخت کښې محمود د خراسان حاکم وو کله چې سلطان محمود د خپل پلار

له مرګ او دوروړ له بادشاهۍ څخه خبر شو، له اسمٰعیل څخه

یې وغوښتل چې د حکومت څخه لاس واخلي او د غه چارې ده ته

وسپاري، خو اسمٰعیل مخالفت وکړ په نتیجه کښې د لږ اخوړ ب

نه وروسته د غزني په شا و خوا کښې اسمٰعیل ماتې وکړه او د

محمود لاس ته ورغی

محمود په ۹۹۸ ع کښې د غزني په تخت کښیناست. محمود

د سیستان علاوه ونیوله او د اسلام د سلطان له خوا بادشاه

او د یمین الدوله لقب ورکړل شو. موږ یې د زابلستان د خلکو

څخه ډېره معروف سړی لو، وه محمود د ځوانۍ او زلميتوب په لومړيو وختو کښې مروجه تعليم او زده کړه کړې وه قرآن يې ياد کړی وو،
د حديثو او شريعت سره اشنا وو، په اداري اصولو کښې يې د خپل
پلار څخه روزنه کړې وه، د جنګ جګړې په فن کښې يې ساري سنه
در لود، د هغه د سلطنت دوره د افغانستان د تاريخ د طلائي دور و
څخه يوه دوره وه، تو دې چې د هغه نامتو نوم اروپائيان هم په
ډېر وياړ سره اخلي. سلطان محمود د سلطنت په لومړيو وختو
کښې کورنۍ اړو دوړ غلی کړ او ځينې ځايونه يې چې خپلواک
وو تر خپلې ادارې لاندې راوستل، ورو روسته د افغانستان
دېرا خوالي په فکر کښې شو، غوښتل يې چې هيواد هماغه خپل
لرغوني پراخوالي ته ورسوي، سيستان، غور، خوارزم او
اصفهان يې په خپل دولت پورې وتړل او بيايې وغوښتل
چې خپل حکومت د هند په خاوره کښې ټينګ کړي، پدې نيت

يې (۱۷) ځله پر هند برغل وروړ او په هر برغل کښې يې ستې برې وګټې.

د سلطان محمود لويه جګړه د سومنات جګړه ده چې په (۱۰۲٤ ه) کښې پېښه شوه، سلطان محمود اوريدلي وو چې د هندوانو لويه بتخانه د سومنات په ښار کښې ده. ځکه نو محمود د زړه سوه زره جنګي زلميانو سره د ملتان او اجمير له لارې د راجپوتاني په وچو دښتو او ميرو ورو خوت او پر سومنات يې يرغل وکړ، سره له دې چې د هند ټول راجه ګان د دغې بتخانې د ساتلو له پاره راغونډ شوي وو، خو د دغې خونړۍ جګړې په پای کښې زيات شمير هندوان مړه او ووژل شول، چې بې له تسليميدو څخه يې چاره نه درلوده. محمود بتخانه ټوټې ټوټې او د خاورو سره برابره کړه، پدې بتخانه کښې ډېرې قيمتي دانې او مرغلرې موجودې.

وی. د بغــــداد ســــلطنت لـه دربـار څخـه ـ

په نوی عنوان باندې سفیران دبې شمیره سوغاتونوسره د سلطان

حضور ته راورسیدل، او د سلطان محمود حکومت یې پرهند

او خوارزم باندې په رسمیت و پیژاند، کوم وخت چې سلطان

محمود دسومنات په جنګ بوخت وو ایلک خانیانو د دې فرصت

څخه ګټه واخیسته او په بلخ یې حمله وکړه، خو چې سلطان غزنی

ته راورسید د ایلک خانیانو په خلاف ووت، بلخ یې بېرته

و نیو، او د ترکو لښکرې د آمو هغې غاړې ته وشاړه. محمود د ـ

خپل سلطنت په وروستیو کلونو کښې ری، اصفهان او دعراق

ځینې برخې و نیولې، په هغو ورځو کښې چې سلطان د لرې

ملکونو په نیولو بوخت وو، د ترکو یوې طایفې د سلجوقیانو په

نامه بنه اقتدار او نفوذ پیدا کړی وو خو د محمود ورته پام

شو، ځکه نو دوی یې هم ځانته تابع کړل بیا یې په خراسان کښې

داو سیدلو اجازه ورکړه، سلطان محمود په ۱۰۳۰ع کال په غزني کښې وفات شو.

سلطان محمود دآسیا دمشهورو فاتحانو له ډلې څخه وو. لکه څنګه چې په فتوحاتو اوبریو کښې بې ساری وو، هداسې یې دمملکت په ښکلا کښې هم ساری نه درلود، دمملکت دودانۍ له پاره یې ډیر کوښښ وکړ، دهغه په وخت کښې علوم او فنون هسکو پوړیو ته رسیدلي وو، په غزني کښې یې لوی کتابتون او موزیم جوړ کړ، مسجدونه، حمامونه مدرسي او مکتبونه یې پرانستل ابوریحان البیروني ریاضي دان او منجم دهغې سلطان دوره کې ژوند کاوه. غزنوی سلطنت دسلطان محمود څخه وروسته تقریباً (۱۵۰) کاله دوام وکړ او وروستنی پاچا یې خسرو ملک وو.

سلطان مسعود

د سلطان محمود له مړینې څخه وروسته د هغه کوچنی زوی محمد د پاچاهی پر تخت کښیناست په دغه وخت کښې مسعود د سلطان بل زوی په ری کښې و.

د غزنې زیات شمېر مشران د محمد په پاچاهی خوښ نه وو ځکه نو مسعود یې غزنې ته راوباله مسعود د پاچاهی د نیولو له پاره د غزنې په لوري راهي شو او د دواړو وروڼو ترمنځ جنګ ونښت په نتیجه کښې مسعود د غزنې د مشرانو په مرسته خپل ورور لړې کړ او په خپله د سلطنت پر تخت کښیناست هغه هم د خپل پلار غوندې سخي، زړور او په علم او پوهې باندې مین سړی و، او د پلار کړن لاره یې پوره پوره تعقیبوله، بنارس د هندوانو مقدس

د ابوجعفر عبدالله (المنصور)
دوره

(۱۳۶-۱۵۸هـ) (۷۵۴م- ۷۷۵م)

دسفاح دوفات په وخت کې دهغه ولیعهد (منصور)
حج ته تللی وُ وکله چې دچخته راوګرځیده په تخت
باندې کښیناست، منصور یو عالم، مدبر او زیرک پاچا
وُ. دده د تدبیر له کبله دعباسیانو دحکومت -
بنسټونه ټینګ شول او تقریباً (۵۰۰) کلونو څخه زیات وخت
دپاره یې په اکثرو افریقائي او آسیائي هیوادونو باندې
حکومت وکړ. دابوجعفر منصور دتخت کښیناستلو څخه
لږ څه وروسته دده دتره ځوی عبدالله بن علي
چې په شام کښې والي وُ، بشورش وکړ. منصور دهغه
دسرکوبولو لپاره خراساني ابومسلم وټاکه دنصیبین

ښار یې ونیو، کرمان او همدان یې په خپلې امپراطورۍ پورې
وتړل. خو له بده مرغه سلجوقیانو هغه سپه کرار
پرې ښنبود هغوی چې ورو۔ورو خپل ځـــان ۔
پیاوړی کړی وو تر مروی پورې مخکې راغلل، مسعود په هغو
باندې برید وکړ خو ماتې یې وکړه او ځکه نو سلجوقیانو دغزنویانو څخه
د یو ملکونه لاس ته راوړل د دې پیښې نه یو کال وروسته
مسعود د خپل ورور محمد د سړیو له لاسه ووژل شو.
د دې کورنۍ لسم پاچا بهرامشاه دی چې د (۵۱۲ هـ) څخه۔
تر ۵٤۳ هـ پورې یې پاچاهي وکړه. بهرام د ابراهیم زوی او د
مسعود لمسی وو بهرام یو عالم فاضل او د عالمانو فاضلانو قدردان
وو. د ده زمانه د علمي ترقۍ له پاره مشهوره ده، ځکه چې په هغه
وخت کښې لوی شاعر سنائي هم ژوند کاوه. په پای کښې
د هند د غزنویانو دولت د سلطان غیاث الدین غوري په وسیله
له منځه ولاړ.

دسلجوقیانو اقتدار :

سلجوقیان په اصل کښې دترکستان او خراسان اوسیدونکی وو د عباسیانو سلطنت د زوال په وختونو کښې سلجوقیانو په خراسان او ترکستان باندې قبضه وکړه د سلطان محمود غزنوي د مرګ څخه وروسته سلجوقیانو د طغرل بیګ تر مشرۍ لاندې نیشاپور، عراق، ارمینیا، طبرستان اوداسې نور ځایونه ونیول بیا په ۱۰۵۵ع کښې یې بغداد ونیوه. دوخت حکمران القایم بامرالله خپل صدراعظم امیرالامراء او سپه سالار طغرل بیګ وټاکه. طغرل بیګ ددرې کلونو په موده کښې څو کلاوې له رومیانو څخه ونیولې په (۱۰٦۳ع) کښې طغرل بیګ وفات شو او دهغه پرځای الپ ارسلان سلطان او امیرالمرامقرر شو. هغه هم رومیانو ته ماتې ورکړه.

په ۱۰۷۳ع کال کښې الپ ارسلان غوښتل چې په چین باندې حمله وکړي، لیکن دجیحون د دریاب څخه تیر شوې نه وو چې وفات شو. دالپ ارسلان څخه وروسته ده ځوی ملکشاه پاچا شو ملکشاه دماوراءالنهر ټولې سیمې ونیولې. په دې وخت کښې روميانو هم ملکشاه ته خراج ورکاوه. ملکشاه په ۱۰۹۳ع کښې وفات شو. ملکشاه یو عالي منتظم و، دخلکو د هوسایۍ له پاره یې مسجدونه، پلونه، نهرونه او مدرسې جوړې کړې د ده دوفات سره سم دسلجوقیانو زوال هم پیل کیږي.

اتابکیه او د بنوزنگی کورنی

اتابک لغوي معنی پلار او امیر ته وېل کېږي د نسل په لحاظ اتابکیه ټول ترک وو د هغوی ځېنو سردارانو حکومتونه هم تشکیل کړي لکه د فارس اتابکیه، د آذربائیجان اتابکیه د دمشق اتابکیه او داسې نور مګر د هغوی په ټولو امراؤ کښې د بنو زنګي کورنۍ ډېر شهرت لري د دې کورنۍ په حکومت کې د موصل، حلب شام او جزیري علاقې شاملې وې. عمادالدین په ۵۲۱ هـ کال کښې د عراق او موصل حکومتونه په لاس راوستل او د بنو زنګي کورنۍ د سلطنت بنسټ یې کیښود. عمادالدین زنګي صلیب پرستانو او د روم فوځونو ته پرله پسې ماتې ورکړې. د عمادالدین څخه وروسته هیواد د دوه

زامنو په مینځ کښې وویشل شو. د حلب ولایت د نورالدین محمود او موصل د سیف الدین په لاس کښې پریوت.

نورالدین محمود څوځلې پرله پسې حلبي فوځونو ته ماتې ورکړه. په هغه ورځو کښې د فاطمی دولت مخ په زوال وو. نورالدین محمود د حالاتو برابر ولوله یاره خپل یو سالار شیرکوه د مصر په لور ولیږه شیرکوه د خپلو جنګي کار-روائیو په نتیجه کښې د مصر سرکش امیران ختم کړل نورالدین محمود په ۵٦۹ هـ کښې وفات شو دی په خپله عالم وو او د عالمانو قدر به یې هم کاوه ده په دمشق کښې یو دارالحدیث هم جوړ کړی دی. بې شمیره پرهغیزې مدرسې، مسجدونه او-روغتونونه هم جوړ کړل د ساده ژوند په لرلو بربیره یې په عدل او انصاف سره د حکومت چارې پرمخ بیولې. د ده دوفات نه وروسته د ملک حال خراب شو، د داخلی اړو دړو په

نتیجه کښې صلاح الدین ایوبي شام باندې حمله وکړه او د زنګي د کورنۍ خود مختاري یې په ۵۸۱ هـ کښې پای ته ورسوله.

غوریان

غور د هرات، فراه، قندهار او اوسنی هزاره جات په منځ کښې هغه علاقه وه چې په (۴۰۱ هـ) کال کښې د سلطان محمود غزنوي له خوا ونیول شوه. او د اسلام دین په هغه کښې پوره پوره خپور شو، غوریانو د اسلام څخه وړاندې محلي حکومتونه درلودل ځانګړی دود او رواج یې درلود. د غور د نامتو مشرانو څخه محمد بن سوري وو چې د سبکتګین او سلطان محمود هم عصر وو سلطان محمود وروسته له هغې چې غور ونیو محمد یې بندي کړ کوم وخت چې محمد مړ شو نو د غور حکومت یې د هغه

زوی سلطان ابوعلی ته ورکړ. ددې وخت څخه وروسته غور
په باندنیو چارو کښې د پښتو په شان پوره خپلواکي درلوده
او په غزني کښې د بهرامشاه تر زماني پورې همدغه شان
خپلواکۍ پاتې شو.

کله چې غزنویان کمزوري شول، غوریانو ځان د طاقت
خاوندان کړل او اقتدار یې لاس ته راوست، خو سره له دې یې
هم د غزنویانو د دولت سره روابط ښه وو.

قطب الدین محمد غوری چې د غزنوي بهرامشاه زوم وو
د خپلو ورونو له ویرې بهرامشاه ته پناه وروړه. بهرامشاه
د ده پوره درناوی او هرکلی وکړ، خو کله چې د غزني خلک
قطب الدین ته ډېر ورنږدې شول، د بهرامشاه گومان پرې بد
شو او هغه یې په زهرو وواژه، کله چې دا خبر د قطب الدین
ورور سیف الدین سوری ته ورسید، هغه په غزني باندې

یرغل وکړ په ۵٤۳ هـ کښې یې بهرامشاه له غزني څخه په شړلو
او هند ته په تښتېدلو مجبور کړ، یو کال وروسته بهرامشاه په
غزني برید وکړ، سیف الدین یې ونیو او هغه یې مړ کړ. پدې وخت
کښې علاءالدین حسین په ډېر شور او زوږ سره دخپل ورور
دانتقام اخیستلو له پاره په ۵۴۴ هـ کښې غزني ته راغی. دده او بهرامشاه
ترمینځ یوه خونړۍ جګړه ونښته خو د بهرامشاه په ماتې تمامه
شوه، بهرامشاه بیا هند ته وتښتېد. علاءالدین د غزني په خلکو د هیڅ
رنګه تیري او زور څخه ځان ونه ژغوره او اووه شپې
او ورځې یې عام قتل او وژل وکړل او بنایسته غزني
یې چې د ښارونو ناوې بلل کېده ټول وسوزاوه چې دده د
هدې عمل له کبله یې هغه ته د جهانسوز لقب ورکړ.(۵۵۰ه)
علاءالدین د غزني د سوزولو څخه وروسته په سلطان
سنجر سلجوقي یرغل وکړ، خو ماتې یې وکړه او ونیول شو،

ځـه موده وروسته بیا سنجر خوشې کړ او غــــزنـي

ته یې ولېږه.

علاء الدین د کوړنۍ اړو دوړ له غلی کولو څخه وروسته

په سیستان، بست او هرات باندې برید وکړ او په ۵۵٦ هـ کښې مړ شو

د علاء الدین څخه وروسته سلطان سیف الدین محمد په تخت

کښیناست خو پدې وخت کښې د غزنې ترکانو ډېر اقتدار-

مونډلی و او سیف الدین د هغوی سره جګړه وکړه خو د خپلو

سردارانو د خیانت له کبله ووژل شو.

سلطان غياث الدين

دسيف الدين له مرګ څخه وروسته دغور مشرانو د هغه دتره زوی غياث الدين د پادشاهی په تخت کښينا وه .

غياث الدين د دغې کورنۍ له لويو پاچاهانو څخه دی، ده لومړی دغزني ترکانو ته چې دغزني د وروستيو پاچاهانو په زمانه کښې تر غزني او کابل را رسيدلي وو، سخته ماتې ورکړه او غزني يې د هغو څخه ونيوه بيا يې دهرات په خوا مخه وکړه او هرات يې د سنجر د حاکمانو څخه لاس ته راووست، برسيره پردې يې سيستان، کرمان، ميمنه او پنجده ونيول.

غياث الدين دغوريانو لسلطنت څخه لويه امپراطوري جوړه کړه او دستر و اجتماعي خدمتونو څخه وروسته

په سیمه کې د دواړو ترمنځ د یر خونړی جنګ پیښ

شو عبدالله بن علی ماتې وخوړه او ابومسلم کامیاب شو.

ابوجعفر منصور خپل پایتخت بغداد و ټاکه «چې د

دجلې د دریاب په غاړه د مداین څخه (۱۵) میله شمال خواته

واقع دی.»

منصور څو معتمد کسان خراساني ابومسلم ته ورولیږل

ابومسلم یې پایتخت ته راووست او هلته یې په چل او

فریب سره وواژه دابومسلم د قتل څخه وروسته د ملک

په څو ځایونو کښې بغاوتونه پیل شول. منصور په

«۱۵۸» هـ کښې وفات شو او دده پر ځای مهدي پر تخت

کښیناست.

په کال (۵۹۹) هجري کښې په هرات کښې مړ شو. شهاب الدين غوري د هغه ورور چې په معزالدين ملقب و، د هغه له مرګ څخه وروسته په تخت کښيناست.

سلطان شهاب الدين

شهاب الدين د خپل ورور په وخت کښې د لښکر مشر وو، او د غياث الدين د وخت ډېرې کاميابۍ او بري د هغه په وسيله سر ته رسيدلې وو کله چې پاچا شو د هېواد په پراخوالي کښې يې زيات زيار وکيښ که څه هم د لوی سلطان محمود په زمانه کښې د اسلام دين په هند کښې خپور شوی وو خو د غور د دې لوی شخصيت په واسطه د هغه نور ډېر ښارونه هم د اسلام په پاک دين مشرف شول. د هند نيول شوي ملکونه يې خپل غلام قطب الدين ايبک ته ورکړل او خپله

دخوارزم شاهیانو څخه دخپل دولت دساتنې له پاره دخپل سلطنت مرکز ته راغی. ددې په زمانه کښې دغوریانو بادشاهي دشمال له خوا تر خوارزم او ماوراء النهر او په هند کښې د هند په لويو برخو کښې جاري وه دا لوی پاچا په ۶۰۲ هجري کښې داباسين په غاړه دهند دارو دوړ د دکارولو له پاره هغې خواته روان شوی وو، ديوه ناپېژندل شوې سړي له خوا ووژل شو، بيا محمود دغياث الدين وراره په غور کښې پاچا شو، خو دا وخت دغوړ ددولت چارې ويجاړې شوې وې، ځکه نو دا لويه امپراطوري په دوه برخو ووېشله شوه چې يوه برخه يې په هند کښې دقطب الدين ايبک . او بله برخه يې دغور په مرکز کښې دامير محمود تر ادارې لاندې راغله. څرنګه چې دا سړی ډېر عياش او لټ وو له دې کبله يې قدرت کمزوری شو، او خوارزم شاهيانو

ورو ورو په تيري پيل وکړ تر څو چې په پای کښې

د اتسيز بن علاء الدين په زمانه (۶۱۲ هجري) کښې سلطان

محمد خوارزم شاه غزني او غور ونيول او دغور يانو-

لړی ته يې خاتمه ورکړه.

خوارزمشاهيان

(۴۹۰ - ۶۲۸ هـ)

د خوارزم شاهيانو دکورنۍ لومړی سړی دغرجستان

له خلکو څخه وو چې انوشتگين نوميده او د سلطان

ملکشاه سلجوقي د دربار له مامورينو څخه وو، او د خپلې

پوهې او لياقت له کبله د ملکشاه سلجوقي په زمانه کښې

د خوارزم حکومت لاس ته ورغي او وروسته له هغه

يې زوی قطب الدين محمد د سلطان سنجر سلجوقي له خوا د-

خوارزم په حکومت ورتاکل شو ، هغه په خپل دېرش کلن حکومت کې د سنجر سره ډېر ښه روابط درلودل دقطب الدین محمد له مړینې څخه وروسته چې د خوارزم شاه په نامه یادیده د هغه زوی اتسیز د خوارزم حاکم شو ده په خپلو مغزو کښې لوی خیال درلود او په (۵۳۵) هجري کښې یې د خپلواکۍ اعلان وکړ چې د هغه له امله د دواړو خواؤ ترمینځ جنګ ونښت ، سنجر په ماوراء النهر راوخوت او په نتیجه کښې یې اتسیز مغلوب او د سنجر په لاس بندي شو ، د اتسیز څخه وروسته د هغه زوی ایل ارسلان پر تخت کښیناست هغه سلطان سنجر ته د روغې له لارې راننوتې شو ، له ایل ارسلان څخه دوه زامن یو تکش او بل سلطان شاه پاتې شول چې لومړی سلطان شاه په تخت کښیناست خو مشر ورور (تکش) یې د هغه حکم ونه مانه ، په

سړی ورته یې لاس پورې کړ او ډېره موده له خپل ورور سره په اخ و ډب بوخت وو تردې چې تکش له شلو کلونو وروسته د سلطان شاه په مړینې سره له دې کړاو و نو څخه خلاص شو. علاء الدین تکش د دې کورنۍ له نامتو پاچاهانو څخه دی لومړی یې مرو، طوس او سرخس چې سلطان شاه نیولي وو له خوارزم سره وتړل او بیا یې په بخارا برید وکړ د سلجوقیانو پاچا دریم طغرل سره وجنګېد، هغه ته یې ماتې ورکړه او وې واژه، د سلجوقیانو سلسله یې له منځه یوړه، د اصفهان او همدان په لوري ستون شو، دا ځایونه یې ونیول د عباسیانو پاچا د هغه سره د مخالفت او دښمنۍ له لارې راوړاندې شو، خو تکش هغه له ماتې سره مخامخ کړ او تر بغداد پورې وړاندې ولاړ. د عباسیانو پاچا ناصر له ویرې څخه عذر وړاندې کړ.
تکش نه یوازې د سیاست له نظره لوی سړی وو، بلکې

دعلم او پوهې له خوا يې هم لوړ مقام درلود او ډېر خدمتونه

يې وکړل، د هغه له مړګ څخه وروسته قطب الدين محمد

دهغه زوی دپلار په ځای کښيناست، لومړی خــوڅــ

د خپــل وراره د مخالفت سره چې غوښتل يې وروسته

له تکش څخه پاچاشي مخامخ شو، خو دېرژر قطب الدين پرهغه باندې غالب شو

اووراره يې شهاب الدين غوري ته پناه وروړه، د غوري پاچهان

چې د مناسب وخت په لټون کښې وو، په خوارزم يرغل وکړ

خو قطب الدين هغوی مغلوب کړل، فيروزکوه، هرات او

غزنی يې له غوري پاچاهانو څخه ونيول. ده هم د پلار غوندې

د مملکت په پراخولو کښې ډېر زيار وايست، په ختيځ

ترکستان کښې يې د قراختائيانو دولت، د افغانستان

غوري دولت او د فارس او آذربايجان د اتابکانو

کوچني دولتونه يو په بل پسې ونيول. ده غوښتل چې

په بغداد کښې د بني عباس امپراطوري له پښو وغورځوي

او په ځپله داسلام یو ازیني لوی امپراطور شي . چې د دې

مطلب په غرض یې په (٦١٥هـ) کښې خپل لښکر ته د بغداد

په لور د روانېدو امر ورکړ او په ځپله هم د عراق

په لور روان شو ، د همدان شاوخوا ته رسېدلی وو چې

په خپل هېواد یې د چنگېزیانو د حملې خبر ورورسېد.

چنگېزیان چې د محمد خوارزم شاه سره نژدې ګاونډیان

وو ، لومړی یې هیله لرله چې د خوارزم شاه سره ښه روابط

پیدا کړي ، خو قطب الدین محمد لویه سهوه وکړه چې د کبر

او لويي له مخې یې د چنگېز نماینده ګان ورټل او مړه یې

کړل ، ځکه یې د دوستۍ خیال په دښمنۍ بدل

شو ، د چنګېز جذبات راوپارېدل ، د ډېر لښکر سره

یې په ماوراءالنهر حمله وکړه . محمد خوارزم شاه چې د مقابلې

توان نه درلود، ماز ندران ته وتښتېد. چنګېز هغه پرمخ
کړ، چې د هغه ځای ته هم ونښتېد او د «آبسکون»
ټاپو ته ولاړ. چنګېز توليو دا نه وراني کړې او -
ډېر خلک يې ووژل. محمد خوارزمشاه له ډېر غم او
خپګان څخه په همغه ټاپو (جزيره) کښې ساه ورکړه.
ده څلور زامن درلودل چې مشر زوی يې جلال الدين
د خپل پلار په زمانه کښې د غزني نائب الحکومه وو، د
خپل پلار د وصيت سره سم يې د چارو واګې په لاس
کښې ونيولې.

جلال الدين ډېر زړور سړی وو د چنګېز يا نو
په مقابل کښې يې د جنګ ډګر ته ورو دانګل او چنګېز يا نو
يې دوه ځلې ماتې ته مجبور کړل، خو د خپلو سردارانو
د ځانځاني او بې اتفاقۍ له امله جلال الدين په باميانو

کښې ماتې وکړه او چنګېز د خپل یو لمسي د وژل کېدو له کبله دغلغلې سېنار له خاور و سره برابر کړ.

د چنګېز او جلال الدین جګړې د سند تر رود پورې ورسېدې. جلال الدین د د ووکلونو سرګردانۍ څخه وروسته بیا افغانستان ته راغی، هرات آذربایجان او ګرجستان یې له مغلو څخه ونیول. خو په ۶۲۸ هـ کښې د یو کرد ستانی له لاسه ووژل شو، چې د هغه په مرګ د خوارزم شاهیانو نوم له مینځه ولاړ.

دایوبیه حکومت

(٥٦٤ - ٦٥٧هـ) (١١٧١ - ١٢٥٠ع)

د دې سلطنت بنسټ سلطان صلاح الدین د مصر - دنیو لو ټخه ورو سته په ٥٦٤ هـ کښې کېښود او هغه خپل پلار نجم الدین ایوب ته منسوب کړ. په ایو بیه دولت کښې مصر، شام او شا وخوا سیمې شاملې وې. دنسل له پلوه نجم الدین کُردي وو. د ده پلار " شاذی " د آذربایجان دولایت دکر دانو سردار وو.

صلاح الدین د نورالدین زنګی ملازمت غوره کړ دی د خپل لیاقت او استعداد په اساس مخکښې لاړ او دمصر د فاطمي خلیفه وزیر مقرر شو. آخر په ٥٦٤هـ کښې صلاح الدین د فاطمیا نو حکومت له مینځه یووړ او -

د محمد بن منصور مهدي دوره

(۱۵۸ - ۱۶۹هـ) (۷۷۴م - ۷۸۵م)

د منصور نه وروسته د ده ځوی محمد (مهدي) حکمران شو. مهدي ډېر نرم مزاجه او حلیم سړی وو. ده هغه کسان چې د منصور په وخت کښې نيول شوي او بنديان شوي وو ټول عفوه او خوشې کړل د عيش او عشرت سره سره وظيفه شناس وو. په انصاف او عدالت کښې د ده دوره ممتازه وه، د قاضيانو په وړاندې به د عادي او عامو محکومانو په ډول دريده او د فيصلو به يې ډېر احترام کاوه، د حرم مسجد ته يې پراخوالی ورکړ د خلکو د آرامۍ له پاره يې کاروان سرايونه، لارې او سړکونه جوړ

د ايوبيه دولت اساس او بنسټ يې کېښود.

صلاح الدين مسلسل صليبيانو ته ماتې ورکړه. د ده د وفات څخه وروسته (١٤) پاچاهان د ده په کورنۍ کښې تېر شول، ليکن يوه هم د ده په شان کار روايي ونکړه. د ايوبي دولت آخرنی پاچا سلطان موسیٰ الملک الاشرف ووچې خلکو د نااهل توب له کبله معزول کړ. په دې ترتيب سره د ايوبيانو دولت له مينځه ولاړ.

پوښتنې

١- طاهر د خپل ملي حکومت بنياد د څنگه کېښود او په څه توگه يې په خراسان کښې خپلواکه حکومت جوړکړ؟

٢- د صفاريانو د سلسلې مؤسس څوک وو، څرنگه يې د خپلې کورنۍ بنيا د کېښود او کوم کارونه يې وکړل ؟

۳- عمر لیث صفاری پس له څه د سلطنت خاوند شو؟

٤- د سامانیانو د کورنۍ لوی او نامتو پاچا څوک وو؟

٥- د خوارزم شاهانو سلسله څرنگه او په کوم ځای کښې مینځ ته راغله، د دې کورنۍ نامتو پاچاهان او د هغوی فتوحات بیان کړئ؟

٦- د غوري کورنۍ وروستی پاچا څوک وو، څرنگه او د چا په وسیله له پښتنو وغور څخه بیان یې کړئ؟

۷- د غزنویانو د کورنۍ مؤسس څوک گڼئ، هغه څنگه او په کوم ځای کښې د خپل سلطنت بنیاد کښېښود؟

۸- لوی سلطان محمود په څه پسې سلطنت ته ورسېد او زمونږ د هېواد لپاره یې څه خدمتونه وکړل؟

۹- سلطان محمود څو پلا په هند حمله او برید وکړ او د هغه لوی جگړه کومه یوه ده؟

۱۰- علاء الدین حسین څو ځله په غزني برید وکړ؟

دریم فصل :

پر افغانستان د مغلو یرغلونه

چنگېز او د هغه په ځای ناستکسان :

مغل یو وحشي او صحرایي قوم وو، چې د گوبي په صحرا کښې یې د ټبرکلونه بې نومه او بې نښانه تېروندکاوه. د دې قوم تاریخ د چنگېز د راپیدا کېدو سره شروع کېږي.

د چنگېز اصلي نوم تموجن دی، پلار یې عبوغا یې نومېده، په ۱۱۶۷ع (۵۶۳ هـ) کښې د امودر و د برېدرې په سنې غاړه کښې زېږېدلی دی. د چنگېز لقب یې چې د جنگيالی په معنی دی، ځانته غوره کړ.

ده لا هغه وخت چې زلمی وو، خپل ژبه پورې توب اوناریتوب

خپل قوم ته سبو دلی وو، شاوخوا تیتې اوخپرې قبیلې یې

ځان ته تابع کړې وی، په ۵۹۸ هجری کښې په تخت کښیناست.

چنګېز په قراقرم کښې خپل پایتخت جوړکړ او دخپل

سلطنت په لومړیو کلونو کښې یې شمالي چین تر پیکنګ

پورې او سایبریا یې تر روسي ترکستان پورې ونیول.

په دې وخت کښې چې دمغلو حکومت مخ په پیاوړتوب او

اوپراخېدو وو، په مرکزي آسیا کښې راز-راز اختلافونه

موجود وو چې په پای کښې همدغه اختلافونه دمرکزي

آسیا د دو لتونو د کمزورې کېدو سبب شول څکه نودوی ونشو

کړای چې دچنګېز د یرغلو نومخه ونیسي، نوځکه

دآسیا یې ملکونو زیاته برخه دچنګېز تر اداری

لاندې راغله.

د مرکزي آسیا د لويو او زورورو دولتونو څخه يو.
د خوارزمشاهيانو دولت وو، د دې دولت مشر محمد خوارزم
شاه وو. د دغه دولت د شاو خوا ملکونو ډېرې برخې نيولې
وې، په دې وخت کښې د افغانستان او شمالي هند ځينې برخې
دغور د پاچاهانو په قبضه کښې وې، خو محمد خوارزمشاه
د ډېر کبر او لويئ له مخې په خپل ځنګ کښې د يو بل لوی
دولت اقتدار نشو زغملی، نو ځکه کله چې شهاب الدين غوري
د هند په فتوحاتو بوخت وو فرصت يې غنيمت وګاڼه او په
غوريانو يې بريد وکړ افغانستان يې د غوريانو له منګولو څخه
خلاص کړ.

چنګيز چې د خوارزم شاه په قوت او طاقت پوه شوی و هيله
لرله چې د دی ګاونډي دولت سره سياسي او تجارتي
رابطه ولري، محمد خوارزم شاه هم خپل نماينده ګان د چين

په لوري ولېږل چې د مغلو د خان له خوا يې ډېر ښه د

هرکلي وشو، د مغلو خان هيله درلوده، چې د وارهخواوو

خپل مالونه په آزاده توگه ديو او بل په ملکونوکښې خرڅ کړي

څکه نو خپل نمايندگان يې د ډېروسوغاتونوسره دخوارزم شاه

دربارته ولېږل، خوخوارزم شاه بې فکري وکړه او دلويې سهوې مرتکب شو،

ځکه چې د مغلو هيئت يې لومړې سپک او وروسته په قتل ورساوه. لدې

کبله د چنگيز د قهر او کينې اور په لمبو شو، او د يرغل

تياري يې وکړ. د خورا زيات لښکر سره مخ په خوارزم

شو او خپل يرغل يې په ۵۶۵ هجري کښې پيل

کړ، چنگيز له ټولو لومړې د (اترار) ښار ونيو او د بخارا

په لوري وړاندې ولاړ، بخارا يې ډېره اسانه ونيوله اوړوهره

تاوانونه يې ورواړول چې قلم يې د ليکلو توان نه لري، بيا يې

د سمرقند په خوا مخ وگرزاوه په لارکښې يې چې هرڅوک

ولیدل ټول یې ووژل او هرځای ته چې ورسید وران یې کړ او هرڅومره مال یې چې ولید په لوټ یې یووړ په خوارزم شاه پسې یې سړي ولیږل خوارزم شاه چې دمقابلې زور په ځان کښې ونه لید لوړی افغانستان او بیا طوس ته ولاړ او د هغه ځای نه عراق ته وتښتید. خو څرنګه چې مغل دهغه په لټه کې وو، ځکه نو دی د (ابسکون) ټاپو ته چې د خزر د جزایرو څخه ده ولاړ، چنګېز له دې کبله چې خوارزم شاه یې پیدا نه کړ، د هغه کور کهول بال بچ یې تر تیغ تېر کړل، چنګېز د خوارزم له نیولو نه وروسته د آمو د سیند څخه تېر شو او بلخ ته راغی، میمنه او اندخوی یې ونیول.

په دې وخت کښې جلال الدین خوارزم شاه چې د پلار په ژوند د غزني حاکم و وغوښتل چې د خپل پلار پور له چنګېز څخه واخلي ځکه نو خلک یې د چنګېز د عسکرو په خلاف

و پارول او په هر ځای کښې يې د چنګيزيانو په مقابل
کښې جګړې پيل کړې، په پروان کښې چنګيزيانو ماتې
وخوړه بل جنګ په باميانو کښې وشو، چې د چنګيز لمسی
د ضحاک په ښار کښې ووژل شو. خو د محمد رسن دارانو
د ځان ځانۍ او بې اتفاقۍ په وجه چنګيزيان غالب شول.
دوی جلال الدين د ماتې سره مخامخ کړ. د غلغلې ښاريې وران
او عامه وژنه يې وکړه، جلال الدين مجبور شو چې
د اندس درود په لوړې په شاولاړ شي. د مغلو عسکر
په هغه پسې شول د سند درود په غاړه سخته جګړه د
دواړو ترمينځ ونښته جلال الدين چې چاره تنګه وليده
خپل ځان يې سيند ته وغورځاوه او په آس باندې له
رود څخه تير شو، د هغه ځای څخه ايران ته راغی او د دوهم
ځل لپاره يې بيا د مغولو سره په جنګ پيل وکړ، ښه بری يې په برخه

شو، خو په ۶۲۸ هجري کښې ناڅاپه په کردستان کښې ووژل

شو، کومې ورانۍ چې چنګيز په اسلامي نړۍ کښې په عمومي

توګه او په تېره زموږ په ګران ملک کښې کړې دي ديو شمېر

تاريخ ليکونکو په عقيده به په زرو نورو کلونو کښې هم د

هغو ځای و نه نيول شي، چنګيز له ډېرو وينو توېولو

نه وروسته په ۶۲۴ هجري کښې مړ شو خو د هغه اولاده په چين کښې

د (اغتائيه) په مغولستان کښې د (تولوئي) په فارس کښې -

د (ايلکخانيانو) او په ماوراء النهر او افغانستان

کښې د چغتائيه په نامه پاتې شول، چنګيز څلور زامن درلودل

تولی، اوکتای، چغتای او جوجی. تولی د پلار له خوا د هرات

په نيولو مامور شو، د هغه ځای خلک د مغولو سره په ډېره

مېړانه و جنګېدل نو هغې چې حاکم يې و وژل شو، او -

چنګيزيانو هرات له خاورو سره برابر کړ. قوبلای د تولی

زوی تول چین ونیو. هلاکو د قوبلای ورور د-
عراق او فارس په نیولو مامور شوی وو، چې د عباسیانو
خلافت یې له مینځه یووړ. چغتای د چنګیز بل زوی د پلار
د مړینې وروسته په ماوراءالنهر، بدخشان بلخ او غزنې
حکومت کاوه، چې د چغتای تخر وروسته د هغه
اولادونو کښې ځان ځانې او بې اتفاقي پیدا شوه. تر څو چې د
هغو وروستی حاکم تیموري په ۷۷۱ هجري کښې له پښتو-
و غور ځاوه. اوکتای په قرا قرم یا د چنګیز د امپراتورۍ په
مرکز کښې ځای ونیو، جوجي، د اورال او خزر د بحیرې
شمالي خواوې او جنوبي روس تر لاسه کړې.

کړل. د مکې، مدینې، یمن او بغداد ترمنځ یې د پوستې سیستم په کار واچاوه. د قیدیانو د اهل او عیال له پاره یې د بیت المال څخه معاش مقرر کړ. د ولیعهدۍ په مسئله کښې یې د عیسیٰ[1] نوم خارج او د هغه پر ځای یې اول خپل ځامن لمړی هادي او د هغه څخه وروسته هارون نامزد کړل او ددې په مقابل کښې یې عیسیٰ ته لس میلونه درهم او ډېره زیاته ځمکه ورکړه. مهدي د ملحدانو او زندیقانو ډېر سر سخت مخالف وو او د هغوی پر ضد یې په خپله د جهاد اعلان وکړ.

---

(1) څرنګه چې منصور په ابتداً کښې عیسیٰ خپل ولیعهد مقرر کړی وو لیکن د عیسیٰ د بې باکۍ او عدم اطاعت له کبله یې د ولیعهدۍ نه لرې کړ. خو د مشکلاتو په اساس یې د مهدي نه وروسته په دوهمه درجه کښې ولیعهد وټاکه.
مهدي هم د خپل پلار د لارې پیروي وکړه او عیسیٰ یې د ولیعهدۍ نه خارج او په څه مال او ځمکه یې راضي کړ او خپل زامن یې لومړی هادي او بیا هارون د عیسی په ځای د ولیعهدۍ نامزد کړل.

تیموریان

ګوړ تیمور او دهغه اولاده

په هغه وخت کښې چې د چنګیزیانو لړۍ (سلسله) مخ په زوال شوه په ترکستان کښې یو بل زورور بریالی فاتح پیدا شو، چې یو ځل بیا د آسیا په ډېرو برخو وبلو سید او د چنګیز و رانې یې جوړې کړې چې له مسکو څخه یې تر ډهلي او د چین له پلو څخه یې د مدیترانې تر حدود د پوړې یې خاوره لاس ته راوستله دغه شخصیت ګوړ تیمور وو.

تیمور په ۷۳۶ هجري کال د کیش په نباړ یا ننني شهر سبز کښې چې د آمو په شمالي خوا کښې پروت دی زېږیدلی او پلار یې امیر تراغای نومیده، چې د چغتایانو په دربار کښې یې د وزارت چارې اجراء کولې. تیمور له کوچنې والې څخه

زیارکښې، کلک ، زړور او د تېنګې هوډ خاوندو.

د زلمیتوب په وخت کښې د جنګیالیتوب او د لیاقت د ښکاره

کولو څخه وروسته د مغولستان د حاکم له خوا د ماوراءالنهر

په حکومت مقرر شو، د هغې ښخې څخه وروسته چې د

تیمور او امیر حسین د بلخ د حاکم تر منځ پیښه شوه امیر

حسین د تیمور له لاسه ووژل شو.

تیمور د بست د جګړو په یوه جګړه کښې په پښه ټپ وخوړ

او ګوډ شو، نو ځکه ګوډ تیمور ورته وایي، ده وروسته

د امیر حسین د وژلو څخه په ۷۷۱ هجري کښې خپلواکه حکومت

جوړ کړ او سمرقند یې خپل پایتخت وټاکه، او بیا یې په

یو لړ بریو پیل وکړ ټول خوارزم او ایران یې ونیو.

په عراق یې یرغل وکړ، او له هغه ځایه روسیې ته ولاړ

او تر مسکو پورې یې پرمختګ وکړ، عثماني ترکانو نه یې په

انقره کښې ماتې ورکړه او سلطان بایزید عثماني یې بندي کړ دکوچنیو امیرانو سلسله یې په ترکیه کښې جوړه کړه، په هندوستان کښې تر ډهلی پورې ورانده ولاړ او بیا یې دچین د سفر تیاری ونیوله خو مرګ وخت ورنه کړ، پخوا له دې چې دچین په برې لاس پورې کړې په ۸۰۷ هجري کښې داو یا کالو په عمر د اترار په ښار کښې مړ شو، په خراسان باندې د تیمور حملې د ډیرو ورانیو سبب شوه ځکه چې دافغانستان زړورو او وطن پالونکو خلکو پوره مقاومت وکړ، چې په نتیجه کښې دمال او ځان تاوانونه ورواوښتل. دا-

د تیمور دو دو دوچې په هره جګره کښې به یې برې وموند -

د هغه ځای دخلکو په عامه وژنه به یې لاس پورې کړ، ودانې او مدني اثار به یې وسوزول ده دخپل سلطنت په موده کښې سره له دې چې پراخه امپراتوري یې جوړه

کړې وه خود ډېر وړانیو او زیانونو په سبب چې ټول

شوي ملکونه ته یې اړولي وو تاریخ نه ډېر بد نوم

پریښود خو له نیکه مرغه د تیمور له مرګه څخه وروسته

د ده اولادونو د عدل او انصاف کمبله وغوړوله دوی

د خلکو د زړونو په ساتنه او خوښۍ بوخت شول د خپل

پلار ورانې یې بیرته جوړې او ترمیم کړې.

هرات یې پایتخت کړ او د علم او پوهې ډیوه یې پکښې

بله او د ښکلو صنایعو ترقي یې زیاته کړه، پوهان او

قدر من یې ښه ونمانځل ځکه د تیمور دې نوې دورې

ته په افغانستان کښې د ختیځ د رنسانس دوره وایي.

د تیمور اولاده :

تیمور څلور زامن درلودل چې د هغوڅخه یې دوه تنه

د تیمور په ژوندکې مړه شوي وو د هغه زامن دادي:

۱- غیاث الدین جهانګیر، ۲- عمرشیخ میرزا -۳- جلال الدین میرانشاه - ۴- شاهرخ میرزا

شاهرخ میرزا

(۸۰۷ - ۸۵۰ هجري)

شاهرخ د خپل پلار په ژوند د خراسان او ایران لویه برخه اداره کوله او نژدې اتلس کاله د هرات نائب الحکومه وو، نو کله چې یې پلار مړ شو د سلطنت واګې یې په لاس کښې ونیولې او د هرات ښار یې خپل پایتخت وټاکه، الغ بیګ یې د سمرقند په حکومت مقرر کړ. که څه هم جنګیالی بادشاه نه وو، خو په جګړو کښې یې بری لاس ته وړ نځی آرام او نرم طبیعت یې درلود، غوښتل یې چې دولت یې کراړ او وګړي یې خوښ او آرام وي، د هغه د سلطنت

دوره په افغانستان کښې د ډېر لوی برم له دوروڅخه ده، د ده په وخت کښې د هرات تاریخي ښار په زرهپوری پرمختګ وکړ.

شاهرخ، عادل او په علم وصنعت مین بادشاه وو، پوهان او فاضلان ورته ګران وو او د هغوی غم به یې خوړ. سوداګري او تجارت ته یې پوره رونق ورکړ. باندنی سوداګران د هند او چین څخه راتلل دچین وریښم، د هرات له لارې اروپا ته تلل. د صنعت، ودانۍ نقاشي او داسې نورو لوی استاذان ددې پاچا په وخت کښې رابنکاره شول.ګوهر شادبیګم د شاهرخ ملکه چې د هرات له خلکوڅخه وه له پوهې او ادب سره ئې زیاته مینه درلوده او په خپل میړه ډېره ګرانه وه، دې ملکې د پوهانو او عالمانو په روزنه

کښې زیاروکښېښ ، دګوهرشاد په نامه یې یوه لویه مدرسه جوړه کړه ، اوشهیرعالمان یې هلته د تدریس او تعلیم له پاره وټاکل. لنډه دا چې شاهرخ مرزا له ۴۳ کلونوحکومت څخه وروسته په ۸۵۰ هجری کال کښې په ۷۲ کلنۍ وفات شو.

د شاهرخ څخه وروسته د هغه اولاده لکه الغ بیګ،ابوسعید او نور پادشاهان شول خو د هیواد چارو ته یې څه پاملرنه ونکړه څو چې د دې کورنۍ یو بل لوی او مقتدر پاچا سلطان حسین ته وار ورسید، د هغه په عصرکښې دلاسه وتلې مدنیت بیرته راژوندی شو.

سلطان حسین بایقراء

(۸۷۳ - ۹۱۱ هـ)

د تیمور یانو وروستی تکړه پاچا سلطان حسین بایقراء دی چې په ۸۴۲ هجری کال په هرات کښې زیږیدلی

دی. د دې تیمور په وینشت کلنی کښې پاچا شو، او د مـــــرو، استرآباد او خراسان د ځینو برخو له نیولو څخه وروسته نو هرات ئې د خپل حکومت مرکز و تاکه سلطان حسین د خپل پوه او نامتو وزیر امیرعلی شیر نوایي په مرسته د هیواد د لاس څخه تللی مدنیت بیرته راژوندی کړ. او کوم ښاروونه چې شاهرخ پیل کړی وو هغه یې سرته ورسول، عالمان، پوهان او د صنعت خاوندان یې ښه و نمانځل او لا یې وروزل. خطاطي، رسامي، نقاشي، شاعري کاشي جوړولو او د علم او صنعت ټولو څانگو زیات پر مختگ وکړ او د افغانستان د ښکلو صنایعو نوې دوره خپلو هسکو پوړو ته ورسیده د هغې دورې آثار او ودانۍ دیادگار په توگه اوس هم شته. د مزار شریف زیارت په دغه دوره کښې جوړ شوی دی.

امیرعلی شیر نوایي د زمانې له لویو شخصیتو نو څخه دی،ده د مملکت په آبادی کښې زیار و ایست، ادبي او علمي ټولنې یې جوړې کړې، ددې دورې نامتو شاعر مولانا جامی دی. بهزاد مشهور نقاش هم په همدې دوره کښې ژوندکاوه د تیموریانو په دوره کښې تاریخ لیکلو هم قدر پیداکړ د تاریخ لوی کتابونه لکه روضة الصفاء او حبیب السیر په دغه عصر کښې و لیکل شول، خو افسوس چې ددې ستر پاچا له مرګ څخه وروسته د تیموریانو دمقتدر او قوی دولت بخت په کوزیدو شو.

کله چې دغه سلطنت د سلطان حسین بې تجربې زامنو: بدیع الزمان او مظفر حسین ته پاتې شو دوی د تخت او تاج د اخیستلو په خیال په خپل منځ کښې په اخ او ډب بوخت شول دوی دوه دې لویو غلیمانو چې لا په خوا ئ

د دې ملک نیولو ته دام ایښی وو، او محمد خان شیباني
او شاه اسمٰعیل صفوي نومیدل د سلطان حسین د زامنو
له اخ او ډب څخه ګټه واخیسته لومړی محمد خان شیباني په ۹۱۲ﻫ
کښې په هرات یرغل وکړ، د سلطان حسین زامن
ورته تم نه شول او ایران ته وتښتیدل په دې وخت کښې.
شاه اسمٰعیل ته ښه وخت په لاس ورغی او د تیموریانو د
حقوقو اخیستلو په پلمه یې په خراسان برید وکړ چې په پای
کښې محمد شیباني مړ او خراسان د صفویانو لاس ته ورغی.
په هدې وخت کښې د افغانستان په ختیځه برخه کې ظهیر
الدین محمد بابر د وخت نه استفاده وکړه، او په کابل کښې
یې د بادشاهۍ اعلان وکړ او په هند کښې یې خپلو بریو
ته دوام ورکړ، څو چې د هند د مغولو سلسله یې منځ ته
راوستله د افغانستان خاوره د ډیرې مودې له پاره د هند

د موسی بن مهدی (هادی)

دوره

(١٦٩ - ١٧٠ هـ) (٧٨٥ م - ٧٨٦ م)

د مهدي د وصيت سره سم هادي په ١٦٩ هـ کښې پر تخت کښيناست دخپل پلار په شان دی هم د ملحدانو کلک دښمن وو. ده د دربار د دروازو پاسداران موقوف او ليرې کړل، خو خلک و کولای شی چې خپل شکايت مستقيماً ده ته ورسوي. هادي غوښتل چې هارون له ولي عهدۍ نه محروم او پر ځای يې خپل ځوی جعفر ولي عهد وټاکي، ليکن د يحيی برمکي د کوښښ او اصرار په نتيجه کښې هارون د هادي د مرګ نه وروسته حکومت ترلاسه کړ. سره له دې چې يحيی برمکی او د هغه ملګري د هادي له خوا

دمغولو، دایران د صفویانو او د ماوراء النهر داز بکو په منځ کښې وویشل شوه.

پوښتني

۱- چنګیز دکوم ځای و او څنګه یې نوم وایست، کومې فتحې یې وکړې. او زمونږ په ملک یې په کوم وخت یرغل وکړ او کومې خرابۍ او ورانۍ یې وکړې.

۲- ګوډ تیمور د کومې کورنۍ څخه وو، کوم وخت یې دخپل حکومت بنیاد کېښود او څرنګه یې په فتحو پیل وکړ بیان یې کړئ.

۳- د تیمور پاچهان څنګه خلک وو آیا دوی د تیمور ورانۍ جوړې کړې او که نه؟

۴- د شاهرخ مرزا او سلطان حسین بایقراء د سلطنت

دوره د هغو د علمي او کلتوري خدمتونو سره یو له بیان کړئ.

۵ـ د هرات د تیموریانو دورې ته یوه عمومي کتنه وکړئ. د دې کورنۍ لوی او مهم خدمتونه بیان کړئ.

۶ـ د هرات د تیموریانو د سقوط سبب څه وو، څنګه او د چا په وسیله د اکورنۍ له پښو و لویده؟

دعباسيانو دورې ته يوه کتنه

دعباسيانو دورې د اموياتو په خلاف چې دفتوحاتو
دوره بلل کېږي د مدنيت او پرمختګ له کبله شهرت لري
اداري تشکيلات سم او دايمي او مؤقتي عسکر په ښه توګه
تنظيم شول، علم، فن او پوهنې په زړه پورې ترقي وکړه،
علمي کتابونه د باندنيو ژبو څخه په عربي ترجمه شول،
تاريخ ليکونکو، تأليف کونکو او جغرافيه ليکونکو د معلوماتو
راټولولو او د پوهې د ډېرولو لپاره د سفر کړاوونه په ځان
وګالل او ډېر جغرافيايي کشفونه يې وکړل. په لويو
ښارونو کښې کتابخانې او پوهنتونونه جوړ شول، عالمانو
اديبانو او د پوهې خاوندانو د علم او پوهې په ښودنه

کښې ډېر کوښښونه وکړل. عربي ژبه د ټولې آسیا او افریقا په اسلامي مفتوحه هېوادونو کښې رواج شوه. او عمومیت یې پیدا کړ. په طب، ریاضي او نورو علوموکښې لوی استادان مینځ ته راغلل.

بغداد د عباسیانو پایتخت په ټولو ښارونو باندې امتیاز درلود. د ملک په هر گوټ کښې لارې، کاروان سرایونه، جوماتونه او روغتونونه جوړ شول. په دمشق کښې د ټوکرانو او بدلو کارخانې جوړې شوې، د مالگې، سرپو، گوگړو، او سپینو او نورو کانونه وایستل شول.

په بغداد برسېره بصره، کوفه، مصر، قیروان، نیشاپور، بخارا، مرو، ری او داسې نورهم د علم او ادب لوی مرکزونه وو.

دعباسي حکومت ملکي
او عسکري نظام

دعباسيانو دحکومت نظام هغه وو، چې دامويانو په وخت کښې يې رواج درلود، فقط څو شعبې زياتې شوې وې ترڅو کارونه په ښه ترتيب سره سرته ورسيږي. عباسيانو به دامويانو په شان خپل جانشين په خپل ژوندانه کښې ټاکه او له عوامو څخه به يې ورته بيعت اخيسته البته دسلطان له وفات څخه وروسته به بيا له خلکو څخه ورته بيعت اخيسته.

مرکزي نظام: دامويانو په شان دعباسيانو حکومت هم شخصي وو، دشورئ مجلس موجود نه

نه وو. سلطان د خپل کار د اسانتیا لپاره کار وزارت ته سپارل له ټولو څخه اعتمادي سړي به یې خپل وزیر مقرراوه، او ټول اختیارات به یې ورته سپارل. د حاکمانو مقرري او معزولي، د بیت المال نګراني او د مرکز ټولې شعبې به د وزیر تر نګرانۍ لاندې وې او د کتابت شعبه به مستقیماً د وزیر تر نګرانۍ لاندې وه. په ابتداء کښې یو وزیر وو، لیکن وروسته یې د محکمې لپاره جلا-جلا وزیر وټاکه او بیا د ټولو څخه لوی وزیر ته یې د وزیراعلی یا امیر الامراء لقب ورکړ.

د وزارت څخه وروسته د حجابت وظیفه ډېره مهمه وه د حجابت لفظي معنی دربان ده لیکن دا به داسې معتمد کسان (اشخاص) تعینېدل چې خلیفه به ورڅخه په امورو کښې مشوره هم اخیسته.

مرکزي شعبات یې په لاندې ډول وو:

۱- دخراج دفتر: د دې محکمې وظیفه دبیت المال عایدات او مصارف ثبتول وو.

۲- د رسائلو یا کتابت دفتر: شاهي فرمانونه، سیاسي تړونونه او یا د شاهانو نه د لیکونو ځوابونه د همدې شعبې وظیفه شمېرل کېده.

۳- دتوقیع دفتر: د دې محکمې وظیفه دخلیفه په نامه راغلی پېښنهادونه او د هغې دجوابونو انتظام وو.

٤- دپوستې دفتر: د شاهي پوستې لېږل او دهغو پاملرنه ددې شعبې وظیفه شمېرل کېده.

۵- دشاهي املاکو دفتر: دې محکمې د شاهي املاکو د تنظیمولو او برابرولو وظیفه په غاړه درلوده.

٦- دشاهي پولیسو دفتر: دشاهي پولیسو انتظام دې

محکمې ته سپارل شوی و.

۷- د بخششونو دفتر : د سرکاري بخششونو حساب اوتنظیم د دې محکمې په غاړه و.

۸- د ذمیانو دفتر : د غیر مسلمانو د حقوقو د ساتنې وظیفه دې محکمې ته سپارل شوې وه.

۹- دیوان العرض یا د نظامي امورو دفتر: دې محکمې له پوځ سره تعلق درلود. د اسلحې د جوړولو فابریکې هم د همدې شعبې تر نظارت لاندې وې.

۱۰- د بندونو او نهرونو دفتر : د دې شعبې وظیفه د نهرونو آبادول او د هغو بندو بست کول و.

۱۱- ولایتي نظام : عباسیانو خپل ټول سلطنت په (۱۳) ایالتونو تقسیم کړی و.

۱۲- د انصاف محکمه : د عباسیانو په وخت کښې د

عدل او انصاف د بر سنه او محقول انتظام وو. دامیراوغریب لپاره لازمه وه چې بې له کومه امتیازه داحکامو تحمیل وکړي.

په هر ښار کښې به قاضي موجود وو. د ښار مربوطه کلیو او قصبو کښې به د قاضي نائب مقرریده چې د - عادل په نامه سره به یادېده . د بغداد قاضي ته به قاضي القضات ویل کېده.

۱۳- فوځي نظام : دعباسیانو دوره کښې اسلامی فوځ د شمېر او سازوسامان له پلوه ددنیا دبهترینو - فوځونو ځخه شمېرل کېږي. دوه قسمه فوځ یې درلود:

۱- باقاعده فوځ ۲- رضاکار

باقاعده فوځ ته به تنخواه ورکول کېده او ټول کال به په فوځي تالېوکښې اوسېدل. او رضاکارو به تنخواه - نه اخیستله ، بلکې جهاد به یې خپله فرضي مذهبي وظیفه -

گټله . د جنګ په دوران کښې د هغوی خوراک او وسله د حکومت له خوا برابرېده . د لسو عسکرو افسر ته ـ به یې عارف او د سلو عسکرو یا لسو عارفانو ته به یې نقیب مقرراوه او د (۱۰۰۰) عسکرو افسر ته به یې قائد ویل او لس قائد به د یو جرنیل د قوماندې لاندې وو.

د بحري بېړیو انکشاف : د عباسیانو په دوره کښې د قبرس او سسلي جزیرې وفتحې د بحري بېړیو په واسطه سرته ورسېدې. د رومیانو په مقابل کښې به یې هم له بحري فوځ څخه کار اخیسته.

د جاسوسي محکمه : د والیانو د کنترول او د رعیت د حالاتو د معلومولو په خاطر عباسي خلیفه ګانو د جاسوسۍ لویه او منظمه شعبه پرانستله چې په خفیه ډول به یې تمام حالات جمع کول او مکمل راپور به یې خلیفه ته رساوه.

بند یان شول لیکن له یو څه مودې وروسته بیر ته خوشې شول.

دلومړي فصل پوښتنې

۱- د عباسیانو په وخت کښې د اسلامي مملکت پایتخت کوم ځای ته انتقال شو؟

۲- د ابو سلمه د وژلو نه وروسته د وزارت چوکۍ چاته ورسیده؟

۳- ابو مسلم خراساني د چا په وسیله ووژل شو؟

۴- مهدي د خپل حکومت په دوره کښې څه اصلاحات وکړل؟

۵. هادي په خپل ژوند کښې څوک ولی عهد وټاکه؟

فهرست

عنوان	مخ

عنوان	مخ

عنوان	مخ

مخ	عنوان

عنوان	مخ

مخ	عنوان

د افغانستان اسلامي دولت

د ښوونې او روزنې وزارت

د افغانستان تعلیمي مرکز

د نصاب مدیریت

تاریخ

د اتم ټولګي لپاره

مؤلف: امین الله

عنوان	مخ

تاریخ

د اتم ټولګی لپاره

مؤلف: امین الله

بسم اللہ الرحمن الرحیم

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمْ

رَبِّ زِدْنِى عِلْماً

قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.

رَضِيتُ

خوښ یم

بِاللهِ رَبّاً

چه الله مورب دی.

وَبِالإِسلَامِ دِيناً

او اسلام مو دین دی.

وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيّاً وَرَسُولاً

او محمد صلی الله علیه وسلم مو رسول ونبی دی.

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلحَمدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ الاِنسانَ وَجَعَلَهُ اَکرَمَ الخَلائِقِ بِالعِلمِ وَالکَرَمِ وَجَعَلَ اُمَّتَهُ مُحَمَّدٍ خَیرَ الاُمَمِ وَاَمَرَهُم بِالدَّعوَةِ وَالاِرشادِ وَالجِهادِ المُعَظَّمِ وَالصَّلوٰةُ وَالسَّلامُ عَلیٰ سَیِّدِ الاَنبِیاءِ وَمُعَلِّمِ البَشَرِ وَعَلیٰ اٰلِهٖ وَاَصحابِهٖ اَجمَعِینَ .

په هیواد کی د سپیڅلی جهاد دپیل څخه راپدیخوا ، استادانو، علماؤاو پوهانو،د شاگردانو د علمی اهدافو دتر سره کیدو اود اسلامی فرهنگ دودی او پراختیاد پاره په مختلفو برخوکی او دپوهی له بنیگنو څخه د بنی گټی اخیستنی پخاطر کاکه پاملرنه کړیده ، او په دی توگه ئی دمهاجرت دناخوالو اوبدو شرایطو سره سره دا خبره نړیوالو ته ثابته کړه چه د افغانستان غیور او قهرمان ملت وکولای شول دجهاد په تیرو یوولسوکلوکی دتوری او قلم مبارزی ته یو دبل ترڅنگه ادامه ورکړی . د افغانستان تعلیمی مرکز چه د مختلفو درنو جهادی تنظیمونو له پیاوړو غړو څخه تشکیل شوید ی په خپل وار سره هڅه کړی ترڅو په هیوادکی د ننه د مدارسو د درسی پروگرامونه له وړځنیو شرایطو او علمی معیارونو سره سم ترتیب اود لمړی دوری درسی کتابونه او د هغو محتو یات دمنل شو یو تعلیمی اصولو پر اساس تهیه او تطبیق کړی . اوس چه دلوی خدای په فضل

د لمړی دوری د کتابونو چاپ او ترتیبول پای ته رسید لی او د خدای پاک په مرسته منځنی او دوهمه مرحله شروع شویده بیایی هم خپله علمی دنده دیوه غوره تعلیمی پروګرام په برابر-ولوکی چه د ټولو تعلیمی بنسټونو او علمی موازینو سره برابروی نده هیره کړی ۰ او دپخوا په شان ئی د درسی کتابونو په برابرولو او تدوین کی د نورو مختلفو جهادی تنظیمونو د پروګرامونو څخه په استفادی سره زیاته پاملرنه کړیده۰

د افغانستان تعلیمی مرکز خپله دنده بولی چه د نصاب مدیریت له هغو استادانو، پوهانو او کارکونکو څخه چه د یوه اسلامی واحد تعلیمی نصاب د منځ ته راوړلو په برخه کی چه له علمی موازینو سره سمون لری له هیڅ ډول ایثار او سرښندنی څخه ډډه نده کړی مننه او درناوی وکړی، او د دوی لا زیات بریالیتوبونه د علم او معارف په برخه کی له پاک خدای څخه وغواړی۰

هیله لرو دهیواد راتلونکی او ځوان نسل د قدرورو مدرسینو د علمی لارښوونی په نتیجه کی تری زیاته ګټه واخلی، تر څو دیوه نوی افغانستان د پاره چه یو اسلامی، خپلواک او پرمخ تللی افغانستان به وی رښتینی او ګټورغړی وروزل شی۰

ومن الله التوفیق

د افغانستان تعلیمی مرکز